# د غړ چینه

Ketabton.com

محمد انور وفا سمندر


د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کتاب پېژندنه:**

**د کتاب نوم: د غږ چینه**
**ویناوال: محمد انور وفا سمندر**
**ایډیټ: محمد عزیز تحریک**
**ډیزاین او د پښتۍ طرحه:**
**چاپشمېر: ۱۰۰۰ټوکه**
**خپرندوی: حسام ادبي ټولنه**
**د خپرونو لړ: ()**
**چاپکال: ۱۳۸۸ کال ژمی**

**کور ودانی!**
**دغه معنوي پانګه د هېواد د بریالي ویناوال، لیکوال او زړه سواندي فرهنګي ښاغلي الحاج محمد حسن حُسام په مالي لګښت او ملاتړ د چاپ په ګاڼه سنبال شوه.**
**کور یې ودان، پر ځلانده پنځونو او فرهنګي یون یې برکت!**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# `د غبر چينه


| سرليکونه | مخونه |
|---|---|
| 1. تقريظ | ۶ |
| 2. دّعا | ۹ |
| 3. ځاني کيهان | ۹ |
| 4. بې جنسه چينې | 10 |
| 5. يوازينی خدای | 10 |
| 6. شپه او چوپتيا | 11 |
| 7. سپينه شپه | 11 |
| 8. ژوند مينه کول دي | ۱۲ |
| 9. لوست | ۱۲ |
| 10. ويره بايد ووينځو | 13 |
| 11. د کلام لاره | 13 |
| 12. اوس غبر دی | 14 |
| 13. د سکوت دښته | 14 |
| 14. بژژژس | 15 |
| 15. ژوند چې دی موجود ټولو دانو کې | 15 |
| 16. گوربت | 16 |
| 17. خدای مينه کوي | 16 |
| 18. لوی نقاش | 17 |
| 19. لنډمهالي کورونه | ۱۷ |
| 20. خپل درمند | ۱۷ |
| 21. پرته له خدايه نشته | ۱۸ |
| 22. د زړه په قدمونو | ۱۸ |
| 23. ميراث | ۱۹ |
| 24. د غبر رود | ۱۹ |
| 25. د بدن کورگی | ۲۰ |
| 26. د روح سترگه | ۲۱ |
| 27. لوی مينه گر | ۲۲ |
| 28. د کلمې باغ | ۲۲ |
| 29. د طبيعت ژبه | ۲۳ |
| 30. سپينه لمبه | ۲۳ |
| 31. چېرې نه ځو | ۲۴ |
| 32. کور غبروول | ۲۴ |
| 33. سرې کرښې پر غاړو | ۲۵ |
| 34. د غبر کتاب | ۲۵ |
| 35. غبر تېارې وينځې | ۲۶ |
| 36. هستې غبروونکی | ۲۷ |
| 37. نه ليکل شوی غبر | ۲۸ |
| 38. د چنار پاڼې چې شعر وايي | ۲۹ |
| 39. شعر پيدا کول | ۲۹ |
| 40. د غبر تاج محل | ۳۰ |
| 41. بېسواده غبرونه | ۳۰ |
| 42. د غبر سپوږمکۍ | ۳۱ |
| 43. د بدن ځاله | ۳۲ |
| 44. د خيال په سترگه | ۳۲ |
| 45. په مين کلام سره | ۳۳ |
| 46. د غبر په پلونو | ۳۳ |
| 47. ښکاريم زه د غبر لپاره | ۳۴ |



د نورو کتابونو لپاره: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

48. د نور خوراک ۳۴
49. ټول د مينې له جنسه ۳۵
50. پرته له خدايه هرڅه دروغ دی ۳۶
51. د الوت ډګر دننه دی ۳۶
52. روح تر زمان مشر دی ۳۷
53. د غر په ډيوه ۳۷
54. مولانا؛ د کلمې سيلانی ۳۸
55. د سمندر رنګين کنډولي ۳۹
56. سکوت غړمبېږي ۳۹
57. هرڅه مينه پيدا کوي ۴۰
58. د مينې څېره ۴۰
59. کيسه، کيسه ګر او نندارچي ۴۱
60. د غر څېره او ننداره ۴۱
61. زړور زړه ۴۱
62. شعر د هرڅه ذات ۴۲
63. بې زړه شپې ورځې ۴۲
64. زه خپل يم ۴۳
65. کله چې زړه له مينې ډک وي ۴۳
66. برخليک؛ بلنليک ۴۳
67. بدن پل دی ۴۴
68. د هستي رنګين باغ ۴۵
69. کور مو برخليک دی ۴۵
70. سکوت ټوله دنيا ۴۶
71. سکوت نا اشنان ژبه ۴۶
72. ژوندی کلام ۴۷
73. د فردي ذهن سيوری دی ۴۸
74. زه د غر يوه تالنده ۴۸
75. ژوند يوازې ځغلي ۴۸
76. معنويت پېل دی ۴۹
77. د چوپتيا ذکر ۴۹
78. له ذهنه لوڅ ۵۰
79. کامل عشق ۵۱
80. د نااشنا ځمکو مسافر ۵۱
81. دی هر وګړی يو ماشوم ۵۲
82. هستي د معنوي غمېو صندوکچه ۵۲
83. هستي پرته له خدايه حس کوو ۵۳
84. څه چې وينو ژوند دی ۵۳
85. د غر سنګتراش ۵۴
86. مينه‌ګر رودونه ۵۵
87. زړونه د سمندر په لور رواني بيړۍ دي ۵۶
88. پرته له خدايه څنګه ژوند کوو؟ ۵۶
89. د چوپتيا سپينه کلمه ۵۷
90. خپل شتون راوباسم ۵۸
91. د غر ميدان ۵۸
92. خپل کلی ۵۹
93. د غر په عمر زاړه او پاخه ۶۰
94. زه خپل ځنځيري ۶۰
95. زړه کې کرل شوې کربښې ۶۱
96. د کلمې کور او کلی ۶۱
97. د ذهن دوړې ۶۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

98. پټه نڅاه ۶۲
99. ټول باور و ۶۳
۱۰۰. د مینې نښې ۶۳
۱۰۱. مور غږوول ۶۴
۱۰۲. نوي کایېنات ۶۵
۱۰۳. مینه شته؛ ژوند شته ۶۵
۱۰۴. خدای شته ۶۶

# پرتلیز تقریظ

ټولو ته روښانه ده چې هرڅوک د خپل زمان او ټولنیز چاپېریال د برلاسو، واکمنو شرایطو(درک، پوهې، عملي تجربې، اقتصادي، سیاسي، عقیدوي، غوښتنو او انساني اړیکو، اړتیاوو)ثمر او محصول دی.
که تېرمهال ته ځیر شو، زموږ د وطن د ګڼ شمېر شاعرانو او لیکوالو پر اثارو د څوارلسمې لمریزې-لیږدیزې پېړۍ په لومړۍ نیمایي کې د مُطلقه پاچاهۍ د اغیز رغنده سیوری پروت و، آن تردې پورې چې د ۱۳۵۱-۱۳۱۱ کلو ترمنځ د قلموالو او ادیبانو کتابونه چې د چاپ په ګاڼه سنګار شوي دي. د ډېرو چاپ شویو کتابونو د لومړۍ پښتې په دوهم مخ کې ورومرو د اعلحضرت محمد ظاهرشاه پاچا عکس چاپ شوی او یو شمېر شاعرانو، لیکوالو د زماني او مکاني مجبوریت له مخې په خپلو کتابونو کې داسې جملې هم لیکلې دي:
«عُمر دې ډېرشه پاچا!» او یاداچې«ای زموږ ستر ټولواکه! ستا سیوری دې پاک خدای زموږ له سرو څخه نه کموي!»
خو د شلمې زېږدیزې پېړۍ په دوهمې نیمایي کې هغه مطلقه رژیم ړنګ او نسکور شو او پرځای یې درباري جمهوریت، وروسې دموکراتیک او بیا اسلامي جمهوري نظام منځته راغی، ځکه نو د شاعرانو زړونو، فکرونو او روحونو د آزاد(خپلواکو)الوتلو خیال او چانس وموند.
اوس(په یوویشتمې پېړۍ کې)هرلیکوال او شاعر د خپل زړه او ذهن په سلا، مشوره د خپلې خوښې نیلی د ادب په ارت ډګر کې څنګه چې یې زړه او سوچ غواړي، په همغه شان یې یرغه ځغلوي، د دولتي واک او سیاسي رژیم ډېره پروا نه ساتي.
په ځانګړي ډول کله چې د غربي(لوېدیځې)دیموکراسۍ آزاد لاسونه زموږ تر ټولنې راورسېدل، خبره(په ادبیاتو کې)تر آنارشۍ او ابتذال پورې ورسېده، هرڅوک په خپل سر شو. معیاري ژبه، معیاري لیکدود له ګډوډۍ سره لاس او ګریوان شول.
هېڅوک هېچا ته د تسلیمۍ سر نه ټیټوي. هر شاعر او هر لیکوال خپل ځان«من» لاڅه کوي، چې پاوباندې من نه هم زیات ګڼي...
څومره چې زه په خپل هېواد کې په تېرو ۳۹کلو کې د خپلو خلکو مورال، ذوق او د خوښونې نبض ته ځیر شوی یم؛ د ډېرکیو کلیشه‌یي شاعري(مُقلد، ساده، مُبتذل نظمونه)له احساساتو ډک شعارونه(د مُرده باد، زنده باد چیغې) د لنډو کیسو، داستانونو، ادبي ټوټو متحدالمالـه(پخوانۍ متداولـه، منلـه شوې)بڼه ډېره خوښېږي، خو د لږکیو کسانو(د پوهو، مُبتکرو او صاحب نظرو اشخاصو)زړونه او فکرونه په نوو او ابتکاري تخلیقاتو، شعر او نثر د نوي او پرمختللي پیر (معاصر ژوند) د غوښتنو مطابق اوبه څښي او ادبي تنده پرې ماتوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه چې کله له غیرمعیاري خو رښتیني ابتکاري شاعرۍ او لیکوالۍ سره مخامخ شم، وار دواره زما پاملرنه خپل ځان ته را اوړي، نوښتګر اثار مې ډېر زیات خوښېږي.
په همدې لړ کې زما مخ ته پرتې د ښاغلي لیکوال محمد انور وفا سمندر صاحب لنډې ادبي ټوټې د ټولګې په څېر «د غږ چینه» هغه اثر دی چې ما یې له لوستلو څخه ډېر خوند واخیست.
قدرمنو لوستونکو!
موږ او تاسې ټول خبر یوو او پوهېږو چې هر سندرغاړی خپل اورېدونکي، هر شاعر-لیکوال خپل لوستونکي لري. دا ځکه چې له یوې خوا ذوقونه او علاقې متفاوتې دي او له بلې خوا څخه فطري استعدادونه، د پوهې کچې او د ژوند عملي تجربې سره توپیر لري. د یو چا به ولسي، فولکلوریک موضوعات خوښېږي، بل به په ادبیاتو کې د باسوادې نړۍ د شهکارونو مینه وال وي، څوک به د دیني، عقیدوي او عرفاني(معرفتي)مفاهیمو ملنګ(پلوی) وي؛ چا ته به رواني، علمي، ساینسي، تخنیکي فنون د ژوند د ایډیال تخیلي ناوې ګرځېدلې وي، څوک به سفسطو کې ورک وي او څوک به په مُتخاصمو فلسفو کې د ژوند او مرګ حقیقت لټوي.
د سمندرصاحب دا ټولګه د اُلفت صاحب د غوره نثرونو څخه رغنده او ځرګنده توپیر لري. په دې معنا چې د اُلفت صاحب هنري نثرونه د څوارلسمې پیړۍ د لومړۍ نیمایي(۱۳۵۰-۱۳۲۰ مو کلو)زېږنده، نوښت او شهکارونه دي، هغه نثرونه، ادبي ټوټې د ملایي لیکوالۍ، مذهبي نړۍ لید، د افغاني سُنتي ټولنې(په پخوانۍ)په منله شوې بڼه د خلکو د ګډ دود په مروجې او ژوندۍ لهجې(ولسي ژبې)د تېرې زمانې په هُنري لیکدود لیکل شوي دي. د اُلفت صاحب ادبي ټوټې عام فهمه دي، ځکه یې زموږ په تاټوبي کې ګڼ شمېر مینه‌وال او پلویان(لوستونکي او خوښوونکي)شته، خو د ښاغلي انور وفا سمندر «د غږ چینه» ادبي ټوټې خاص فهمه دي. دا لنډ خپلواک نثرونه د یوویشتمې عیسوي پېړۍ بچي(لونې-زامن)او ادبي-هُنري پنځونې دي.
د وفاسمندر ددغو نثرونو شکل او مُحتوا دواړه لکه نوی(آزاد) شعر نوي دي. زما په اند او ګومان به دده دا نثرونه په مشرانو(د پاخه عُمرلرونکو کسانو)کې چې نالوستي او کم لوستي دي، لږ لوستونکي او مینه‌وال پیدا کړي، خو باور لرم چې د هېواد په ځوان او راتلونکي توکم کې به ښاغلی محمد انور وفا سمندر د نوې لیکوالۍ د نوي ادبي سبک د نوښتګر-پېلګر لیکوال په صفت وپېژندل شي. دده ابتکاري لیکنې او لنډې ادبي ټوټې به د نورو لپاره د لارې ډیوه او د ادبي یون څراغ شي.
د وفاسمندر په دې کتاب کې مختلفې ادبي ټوټې او بېلابېل مطالب په هُنري ژبه بیان شوي دي.
ښاغلی سمندرصاحب د هغو ټولو ناروغېو، بدمرغېو، ستونزو، ناخوالو، کړاوونو، رنځونو، دردونو، د روزګار د تورو دربلو پرتیا او ګرمتیا چې زموږ د زماني انسان(نر-ښځه)ورسره لاس او ګرېوان دی، پخپله د انسان په نه پاملرنې، بې خبرۍ او د هغه د ناپوهۍ پر ولو باروي.
محمد انور وفا سمندر په خپلو دې ادبي ټوټو کې غږ(صوت)د خپل ځان او ټولو وګړو ښوونکی بولي. روح تلپاتې موجود ګڼي، خو تصویر ورته د فزیکي جوړښت ظاهري عکس(مؤقتي پدیده)ښکاري.
ښاغلي سمندرصاحب په دې نثرونو کې یوه نوې طرحه لوستونکو ته وړاندې کړې ده. دی په خپلو دې خپلواکو نثري-ادبي ټوټو کې په غیرمستقیمه توګه له خپل لوستونکي سره په جدل او مشاجره(په پوښتنې او ځواب ویلو)بوخت دی. دی غواړي هر لوستونکی د فلسفې په ضد او نقیض مېتود، د منطق په زینې د علم، پوهې او درک(معرفت)د مانۍ هسک بام ته ور پورته کړي.
سمندرصاحب شعر ته د غږ رنګینه تابلو وایي. دی د انساني چاپېریال هر څیز او د هرڅه غږ(آواز) شعر بولي. ځمکه ورته د ارواح ښوونځی ښکاري. د ارواح کور په نور او صوت(غږ)کې ویني. نور او غږ د روح غذا ګڼي.
سمندرصاحب په دې نثرونو کې انسان(لوستونکی)ډېر زیات د فزیکي(ارګانیک-ظاهري)ژوند په پرتله باطني(روحي-معنوي)ژوند ته متوجه کوي او دی خپل لوستونکی دم-قدم د سوچ، تفکر او تخیل د ځنو په ولونو(کوڅېو)کې ځنګوي.
سمندرصاحب په نظر:«له مینې پرته بل هېڅ شی وجود نه لري! ټول غږونه مو د مینې لپاره دي. نومونه مو د مینې پلونه دي.» وفا سمندر لیکي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

«زموږ ښه شيان، زموږ ميوې، زموږ ښکلاوې، زموږ ځلاوې ټول له غږه او رڼا راټوکيدلي. غږ د هستۍ لومړنی ګام دی. هستي، کاينات، ستوري، سيندونه ټول له غږه راغلي او پلي شوي. او موږ يو بل ته د غږ او رڼا د سمندر رنګين کنډولي ورکوو.»
د سمندر په فکر:«روح له آسمان څخه لېږل شوی، په دې مکان او زمان کې مېشته شوی دی.»
سمندرصاحب په غېږ مستقيم ډول له هر لوستونکي څخه پوښتي چې د خدای(ج)په ارتې هستۍ کې دا کار ولې شوی دی؟
محمد انور وفا سمندر په خپله دې ټولګه کې موږ دې ته ځير کوي چې:«خدای مينه کوي او موږ د مينې له جنس څخه ياستو. زموږ د سرنوشت پاڼه د مينې په رنګ ليکله شوې. سرنوشت مو د بېړته وربللو له مينې ډک بلنليک دی. زموږ راتلل د مينې راوړل او وړيا وېشل دي. مينه هغه وخت مونډل کېږي چې وشي. موږ چې څومره مينه ورکوو، لازياته يې ترلاسه کوو. مينه يوازينی څيز دی چې نه اندازه کېږي. مينه بې زمانه ده. مينه ځواني او زړښت نه لري. مينه مرګ او ژوند نه لري.»
درنو همژبو!
که چېرې تاسې ښاغلي او اغلې د قدرمن ليکوال محمد انور وفا سمندر صاحب«د غږ چينه» نثرونه ولولئ، نو تاسو ته به روښانه شي چې دده هر نثر دده د پوهې او روح د ژور سمندر له ژور تل څخه راوتلې او راپورته شوې قېمت‌بها مرغلره ده.
زه ګران ورور محمد انور وفا سمندر ته ددې تخليقي اثر د ليکلو او چاپولو مُبارکي وايم! دده د لاسترو برياوو په هيله!!!

۱۳۸۸کال د ليندۍ ۱۶مه

محمد عزيز تحريک

**د يوازيني خدای په نامه**
**چې ټوله هستی يې ډېره**
**ښکلې پيدا کړې**

**دُعا!**

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوند او چارې مو هغسې چې الله يې غواړي.
او موږ هرڅه الله ته سپارلي،
هرڅه د الله دي. موږ ژوند لرو، کورنۍ لرو، چاپېريال او هېواد لرو.
او ريښتيني دا چې خدای لرو.
خدای دا ټوله هستي جوړه کړې
او دا لوی ډګر زموږ ښوونځی دی.
موږ ددې پوښتني ځواب پيداکوو چې ژوند د څه لپاره دی؟
له آسمانونو څخه د روح لېږل کېدل
او په ماده، مکان او زمان کې ميشته کېدل د څه لپاره دي؟
او يوازې همدا شېبه يې وخت دی چې تر ټولو ستره زده کړه وکړو.
هو، که هرڅه د خدای په نامه،
د خدای لپاره او
د خالصانه مينې له مخې سرته ورسوو؛
نو د ژوند لويه روژه به مو نيولې وي.
ذهن ترکنترول لاندې ولره او ټول پام د خدای پر حضور راټول کړه،
د هستۍ د مکتب بيرنی فصل همدا دی.
***

## ځاني کيهان

روانه پيړۍ د سرعت او منډو پيړۍ ده.
اوسنی انسان په تېره بيا لويديځوال انسان چې د تخنيک په جوړېکړې پاچاهۍ کې حيران او ناهيلی ناست دی، د وخت اقتصاد په مخه کړی.
اوس هغه فرصتونه له منځه تللي چې اروپايي شاهزادګياني په مجللو، خو خاموشو حرامسرايونو او ارګونو کې له ميلمه شواليو سره يوازې شي او د پاچاهۍ کاتب ورته د تېر په دوام د ويکتور هوګو د(خوارانو) يا د ليو تولستوی د (سولې او جګړې) د زر او څو سوو مخو ناول يو څپرکی ولولي.
سترې ناهيلۍ او د يوازېتوب په بې ځېرې دېوالونو کې را ايسار انسان د معلوماتو نړۍ پکو کړی،
ځکه نو لنډ، شاربل شوی، خو رنګين کلام د ډېرو په زړونو او حواسو ښه لګيږي.
نوی شعر، آزاد شعر، سپين شعر، ادبي رنګينې طرحې او د کلام او نثر نور شکلونه ورځ تر بلې نوي پلويان خپلوي.
موږ که په دې ډګر کې په څټ پاتې يو، نو بار يې د جګړې پر اوږو ور اچوو،
خو جګړه زموږ له نارو سورو او فرمانونو د باندې راوتې!
نو نن هم کيږي له خپل ځاني کيهان څخه نوي او تازه رودونه، ويالې او لښتې د تورو او کاغذ فصل ته را وبهوو.
راځئ يوځل هسې ځان تجربه کړو چې هېڅوك را پکې تکرار نشي.
راځی نه تکرار شو او نه د زاړه او تللي متن تکرار واوسوو.
***

## بې جنسه چينې

ښځه څوک ده؟ ښايي هره ښځه يو ځل ددې پوښتني په هنداره کې خپله څرګنده او نا څرګنده وجودي برخه وګوري.
د ادبياتو د را ټوکېدلو يو لامل همدا دی چې انسان غواړي د خپل وجود ورک کيهان وغړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ادبيات که د خيال له جنس قد پورته کړي؛
نو بې له شکه چې انسان ته يوه بشپړه ننداره ورکولای شي.
موږ په ورځني ژوند کې؛ راشه درشه کې؛
کړو وړو او د معلوماتو راکړه ورکړه کې مستعمل ژبنی ادب کاروو،
خو چې د خيال ځمکو ته ورسو نو لومړنی وينو.
هلته غږ لومړنی جنس دی او په تورو ليکل شوي کتابونه د غږ بهرنی جنس!
انسان که ښځه وي که نر د کلام امانت له ځانه سره لري.
ادبيات د فکر او خيال د فعاليت سپين جوهر دی چې زموږ ذهني، حسي، رواني او حتا په ښه حالت کې زموږ روحي تندې سړوي.
هنر نه نارينه دی نه ښځينه.
ارواح او د نور او غږ سمندر هم داسي دي.
او افغاني ښځې؛ آ د چا خبره دکار لپاره پيدا دي.
ښځې د کورکولو او اولاد راغتولو لپاره پيدا دي.
خو بيا هم ځيني ښځې فرصت مومي، چې د خيال نيلی د ادب په قلمرو کې وځغلوي.
د هنري پنځونو په شيبه کې ارواح له ښځينه او نارينه کالبوته وځي
او د بې‌جنسه چيني نور او اوبه څښي. او بې جنسه کلام غږوي.
د خدای پېژندني نښې، قدرت، خرد او آزادي دي.
انسان داسي موجود دی چې برخليک يې په ځمکه او نور جهان کې د آزادی، خرد او عشق تجربه کول دي.
انسانان ښځې او نر په خپلو ټولو بوختو سره ددغه ستر هدف د پلي کولو په لاره کې ګام پورته کوي.
د روح په توګه د انسان رښتينی عروج هغه وخت پيل کېږي چې ددغه هدف لپاره په اګاهانه توګه ورووځي.
ادبيات په سوچه او اصيل حالت سره کولای شي انسان د لويې پوهې سمندر غاړو ته ور ورسوي.
***

**پوازينی خدای**

موږ يو او خدای هم شته.
خدای شته خو پيني، لاسونه، حواس، ذهن دا هر څه ځغلي!
خو دا ټولې هڅې خدای ته نه رسيږي.
پيني، لاسونه، سترګي او غوږونه پوازې هغه څهويني، اوري
او تجربه کوي چې له غرو او رغو او بيا له راز راز شيانو ورته را ګرځي؛
نه، ورک به شم؛ خدای شته!
***

**شپه او چوپتيا**

ډېرځله حرکت يوازې د مادې ملاقات دی.
آسمان هېچا په ځمکنيو پينو نه دی ليدلی؛
نو د حرکت لوری دننه دی؛ موږ د هرڅه په وره کې ولاړيو!
راځئ هغه څه ووينو او تجربه يې کړو چې ټول ژوند مو په ډار ور کتلي؛
شپه او سکوت د داسې حرکت غږ پر موږ کوي.
***

(c) ketabton.com: The Digital Library

**سپینه شپه**

د ښې شپې او سپینې شپې پر درشل ولاړو دوستانو!
تاسو په یوه سپینه شپه کې د برخلیک په لاره نور منزل وهئ.
سپینه ځکه وایم چې شپه ستاسو هر یوه لپاره سپینه ده.
تاسو یوازې خپله پریکړه کوئ چې دا سپینه شپه پر څه شي ډکه کړئ؟
انسان له دومره واک سره راغلی؛ خو لا له خپل واک څخه ناخبری اوسي.
موږ هغه څه کوو چې د نورو خوښېږي!
آیا کله مو دا را څخه پوښتلي چې د خدای اراده په څه شي خوشحالیږي؟
موږ هره شېبه د خدای د خوشحالولو واک او وخت لرو؛
نو ورځئ د سپینې شپې اقلیم ته، د خوب وړیا بیړۍ تاسو هر یو هغو ځمکو ته رسولای شي، چې هېڅ مهال مو نه دي لیدلي.
نوې شپه او نوی سفر زموږ ځاني حق دی.
***

**ژوند مینه کول دي**

ژوند مینه دی؛
هستي مینه ده!
دا لمر، دا ستوري، دا سپوږمۍ...
ټول د هغې آبدي مینې سوغاتونه دي، او موږ ته د لوی مینه‌گر کیسې کوي.
دا له رنگینو کبانو ډک مست سیندونه،
دا د جگو، جگو ونو ځنگلونه او پریمانه مېوې،
دا له غمیو ډک غرونه، دا زموږ لوی انساني ټبر...
ټول له عشق او مینې پیدا دي.
زموږ شرف په دې کې دی چې هستي په مینه وپالو!
***
«په هېڅ راز له الهي رحمت څخه بې برخې نه یاستی؛
مگر دا چې هغې مینې او محبت ته څټ کړئ چې ستاسو لپاره ډالۍ شوې؛
د مینې اقلیم چېرې نه دی؛ یوازې په ځان کې سفر وکړئ؛
تاسو هر یو خپل وړوکی کیهان یاست.»
***

**لوست**

مینه یو سپین قلمرو دی.
دا قلمرو هېڅ ډول پولې او سرحدونه نه لري.
د مینې په سپین هېواد کې نه وېرې ته ځای شته او نه شرم ته!
مینه سپینه ده، پاکه ده، بې عیبه ده...مړینه او زوال نه لري.
مینه شته؛ خو چې مینه‌گر شو؛ خو چې ومنو خدای موږ هېڅ مهال په ځنځیرونو نه یو تړلي؛
خدای شته؛ مینه شته؛ ټول لوست همدا دی.
***

(c) ketabton.com: The Digital Library

وېره باید ووینځو

انسان ویریږي! خو د وېرې موضوع ته نشي ورکتلای!
انسان له پېله ډارول شوی؛ مېندې او پلرونه لومړي واکمن استازي دي چې ویره د تازه،
نوي او ماشوم انسان په ذهن او خاطرو کې کري!
وېره موږ ته راکړل شوې.
وېره اصلي نه ده.
موږ وېره زده کړې؛ کرلې!
وېره باید ووینځو!
زموږ زړه هغه سمندر په څان کې ویده لري چې وروستی به له ذهن او فزیکي حواسو را جوړ ټول د
وېرې شرمونه؛ وشړوي!
او موږ ته به د خیال او خوب سپېڅي، تازه، سوچه او بې‌ګناه خوښۍ را پخلا کړي.
نو راځئ دا له شرمونو او وېرو ډکه ورځ په یوه خالي شپه ورکړو.
د شپې خیالي‌ګر اقلیم کې زموږ او ستاسو د روح بیړۍ د نور او صوت د سمندر غاړو،
د خپل نا اشنا وطن په لور، د تللو تلوسه لري.
موږ هم ددغه خاموش جشن د نمانځنو په خاطر خپل زړه پر سکوت ورکوو.
***

**د کلام لاره**

کلام لومړنی دی؛
کلام تر هرڅه مخکې دی.
کلام د ټول تخلیق زړه دی.
او کلام شته!
کلام ژوندی دی. کلام د ژوند اوبه او خواړه دي.
کلام په زمان او مکان کې له باد او باران او غورځو، پرځو ډک څغلي،
اوسي او ارواوې د رڼا برجونو ته رسوي؛
خو د ځوانۍ او زړښت د فصل تابع نه وي!
کلام تل تازه دی او هغه وخت پرېک وهي، چې موږ چوپ شو،
هغه واورو او هغه ته لاره شو. نو راځئ راسره!
هو، چوپتیا د کلام لاره ده، برکت دې وي.
***

**اوس غږ دی**

انسان د غږ شپېلۍ دی.
انسان غږ ښکاره کوي.
انسان مجسم کلام دی.
انسان ګوري، پوهیږي، اوري او دا ټول غږ دی چې را څرګندیږي.
زموږ لومړنی عمر هماغه لومړنی غږ دی. او غږ هره«شېبه»لومړنی دی.
غږ تازه، سوچه او ژوندی دی.
موږ غږ راوړوو؛ غږ رښتیا کړوو. او غږ اوسنی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غږ د اوس غږ دی.
زمانه د مړو، تللو، ډېره شویو غږونو هدیره ده.
زمانه نشته؛ زمانه اوس ده او اوس غږ دی.
زما زمانه همدا غږ دی. زه اوسنی یم؛ اوسنی غږ!
یوه بزګرکارکاوه؛
د هغه د لاس پرتناکو او د وچولي پرخولو وریځې، غنم، جوار او شنې شوتلې را وټوکېدلې
او دې ټولو خدای یاداوه او دومره غږونه له چوپه خوله بزګره راوتل؛
خو هغه ټولو بیسواده ګاڼه!
آخر هغه کتاب نه لوسته؛ نه لیکه؛
نه لاره!
***

**د سکوت دښته**

موږ په وینځلو حواسو او سپین ذهن کې، د خیال ډیوه بلوو
او په دغه شعر کې د زړه پر لاسونو ښوروو او د هستی په ذات کې نغښتی خوږ ریتم په خبرو او غږېدلو
او (غږ) کېدلو راولو.
هو، سکوت نه لیکل شوی کتاب دی؛
که غواړم تازه څه وپنځوم؛ سکوت ته به کښېنم؛
سکوت کې به کښېنم؛
سکوت به اورم؛
سکوت هم لوستل کېږي؛ هم وېل کېږي، او هم موندل کېږي!
د سکوت دښته دننه ده؛
چېرې چې زه یم او هغه یو راسره دی!
***

**بژژژژس**

باید سپین شو. باید لومړني شو!
موږ چې په جنت کې کور خوشې کاوه؛ دا فکرونه، باورونه راسره نه و؛
دا زموږ نه دي؛ نه دي!
دا مړه غږونه او مړې سندرې دي!!!
موږ باید د حواسو او ذهن تیاره شپه په خپل دننه کې ختمه کړو.
زموږ تل کې څپانده بژژژژس د سمندر د څپو غږ دی.
زموږ غږ هغه خندا ده چې غاټولو له شمال څخه زده کړې.
زموږ ناره هغه غږ دی چې خندا ورڅخه جوړېږي.
***

**ژوند چې دی موجود ټولو دانو کې**

د غږ او رڼا سیلانیانو!
کاروان مو روان دی؛
کاروان الوزي، لوېږي؛ تېرېږي!

(c) ketabton.com: The Digital Library

موږ د غږ او رڼا مرغلرې د غوښو او هډوکو په اوښانو کې سپرې د رانه ورک سرنوشت درشل ته ځو!
ژوند کاروان دی؛
پيداکېږي، ځوانېږي؛ زړېږي؛
لوېږي!
دغه د وړمو کاروان هم تېرېږي!
اوس موږ او تاسو يو او په ستورو کې ولاړه د سکوت دمه!
شپه تياره ده؛
خو څه شی نه لري! شپه يو تش فصل دی.
شپه زموږ د خيالونو او زړونو د الوتلو پرمخ تش ټاټوبی دی.
موږ په شپه کې، د زړه په سترګه، د خيال په وزرونو ناپيدا ځمکې مومو.
راځئ چې دغه شخصي او خصوصي سفرونه پېل کړو!
لږ شېبه وړاندې د ميلمستيا وړيا باغونه دي او هرڅوک ځانګړی ميلمه.
جانان اوسي زما او ستا دواړو په زړو کې لکه ژوند چې دی موجود ټولو دانو کې.
کبير

***

**ګوربت**

موږ په وينځلو حواسو او سپين ذهن کې، د خيال ډيوه بلوو او په دغه شعر کې يې د زړه پر لاسونو ښوروو
او د هستۍ په ذات کې نغښتي خوږ ريتم په خبرو او غږېدلو راولو.
دغه له سترګو پناه پاچا هغه وخت ليدل کېږي، چې انسان د مينې، رڼا او سپېڅلي کلام کانال او شپېلۍ شي.
روح د اګاهۍ له سرمنزل څخه را لېږل شوی دی.
هغه څه چې د روح سترګه او غوږ يې ويني، اوري؛
زموږ د فزيکي سترګو او غوږونو په ژبه نه راځي؛
فزيکي ژبه غوښه ده او غوښه غوښتلای او ډېرولای شی!
دا ژبه غږ په واک کې نه دي؛
نو موږ هغه وخت کولای شو د هستۍ زړه ووينو، هلته واوسو او هغه درک کړو، چې وينښ روح شو.
يو بېباکه ګوربت، يو ستور وزری مرغه!
***

**خدای مينه کوي**

« خدای له موږ سره مينه کوي، نو موږ هم بايد داسې وکړو؛
موږ هم له خدای سره مينه کوو.
مينه ژوند ده.
مينه بهيږي.
مينه شنه شوې دنيا ده.
مينه د زړه ساه را کښل دي.
مينه له اسمان څخه را اورېدلي خندا ده.
مينه زما د سترګو ليدل دي.
مينه د خدای خط دی. مينه خدای ليکلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مينه د خدای ده. ځمکه د مينې زده کولو مدرسه ده؛
ځمکه هم مينه ده.
ځمکه له خدايه راغلې کلمه ده. خدای مينه پنځوي؛
خدای هرڅه مينه، مينه اوروي.»
***

**لوی نقاش**

ژوند د مينې اولاد دی. هستي د مينې باغ دی. زموږ ځېرې، رنګونه، نومونه؛
د مينې راز راز ځېرې، رنګونه او نومونه دي.
هرڅه چې ګورو موږ ته د مينې راز را اوروي؛
نو موږ ټولې هستۍ ته خاندو.
ټوله هستي د سترې مينې ننداره ورکوي.
خدای هومره نيږدې دی چې مينه ده.
او چې له سترګو، غوږو، خولو، اوازونو او زړونو يوازې مينه پرېږدو، هرڅه ورکېږي؛
هرڅه مينه کېږي.
هستي د مينې باغ جوړيږي: شکر خدايه! ومې موندلې؛
هرڅه ستا دي؛ د هستۍ نقاشي ستا ده!
***

**لنډمهالي کورونه**

ځېره، شکل، نوم او هويت زموږ لپاره نقابونه دي.
روح د خدايي نور او غږ له جنس څخه دی.
دغه ډبرې، نباتات، راز راز ژوندي موجودات او انساني رنګين نفوس؛
ټول فزيکي قالبونه، کورونه او کالبوتونه دي.
زموږ فزيکي-ذهني هويتونه، د ارواح دغه لنډمهالي کورونه دي.
د خيال او روح سترګه د ځېرې او پوست څټ ته دغه ستره لومړنۍ ښکلا ليدلای شي.
ځکه موږ په خوب کې د ځمکې، ستورو، کهکشانونو څټ ته را څخه ورکې ځمکې ليدلای شوو
او دا ټول ستاسو سره دي.
***

**خپل درمند**

ورځ زموږ کرونده ده.
هغه څه چې د ورځنې تلاش او هڅو په پای کې لاسته راوړو؛ زموږ خپل درمند دی.
دغه درمند زموږ له فکر او کړو وړو څخه پوخ شوی.
دا غلې، دانې موږ پخپله کرلې، موږ خپل کرلې ازغي او الماس ريبو!
ميرانه همدا ده؛
خپل کښت ته بايد غېږه ورکړو. تريخ ژوند مو خپله کرلی. درد او غم مو خپل ذهن او هوس زېږولی.
آسمان او ځمکه مو په انساني پوهې سره لېږې کړي. تيارې، وېرې له موږ دباندې راوتلې. شپې پښه له دننه را وويسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تیاره سرنوشتونه، مرگ، ژوبلې مو له ځانه زیږولي.
موږ په خپلو نتایجو کې هستوګنه غوره کړې. خدای شته؛
خو خدای نه غم، نه تیاره، نه مرگ او نه هغه دښمنې ځېږې دي چې موږ یې را ایسار کړي یو.
خدایه!
څه مې وکړل؟ دوزخ خو ما راوویست.
دوزخ خو زه شوم.
دوزخ خو ما له اورونو او دردونو او بغارو ډک کړ!
آ، که ورک شم، هرڅه ورکېږي. بې له خدایه هرڅه ورکېږي.
بې له خدایه ټول دروغ دي. او هرڅه دروغ دي. خدای شته؛ خو نه بیانیږي.
***

**پرته له خدایه نشته**

ولې موږ خپل درمندونه نه منو!
زموږ درمندونه پراغزو ډک دي. موږ د سرو دانو پرځای ترخه غوزان او پوچې دانې په لاس راوړي.
زموږ طبیعت تریخ دی، له خدای څخه ګیله لرو.
ګاونډیان مو نه خوښېږي. ذهن مو له شکایته ډک دی.
های! خدایه ومې موندلې ته په هرڅه کې راسره یې؛
شکر:کر زما، کښت زما، لو زما، درمند زما!
زده مې شول؛ زه هرڅه هغسې کرم چې غواړم یې!
خدایه! شته یې؛
زه څه ولیکم؛ پرته له خدایه څه ولیکو؟!
نه، نه، خدای شته؛ یوازې خدای شته.
***

**د زړه په قدمونو**

چوپتیا ده. خاموشي خوره ده؛
زه پروت یم. نه خوځیږم. نه غږېږم.
ذهن لګیا دی څه کار لري:
ورځ پای ته رسېدلې،
ما ښه ګټه نه ده کړې!
ما ښې نومرې نه دي اخیستي. ماته چا مینه او محبت نه دی راکړی...
زه له چا څخه ښه خاطره نه لرم.
زه له دنیا، دنیا دردونو او ډېرو، ډېرو ګیلو ډک کور ته راوګرځېدم.
سکوت کې پټ غږ ځواب را لنډوي، زه دا له خپل زړه څخه اورم، سکوت زما زړه ته لاره لري:
هرڅوک ځانته پخلی کوي، موږ به هم دا خپل پخلي خورو؛
ترڅو دا تجربه کړو چې د هرچا او ټولې هستۍ هرکلي ته د زړه په قدمونو ورشو.
***

**میراث**

نو راځئ چې دغه شپې، دغه فضا په ښو غږونو او ښو غبرګونونو له سره رنګ کړو!

(c) ketabton.com: The Digital Library

راځئ چاپېريال، کورنی ماحول او خپل وجود ته مينه او محبت ورکړو.
موږ د مينې، ښکلا، خير او محبت باغواني کوو.
ټوله هستي سپينه ده،
تيارې له ما څخه راوتلي او
د تقدير دا توري پاڼې يې را ته ميراث پرې ايښې.
***

**د غږ رود**

ژوند شعر دی او شاعر زه يم.
شاعر د غږ شپيلۍ دی. شاعر يو روان او جاري غږ دی.
شاعر د غږ پر رود ځان ورکړی. شاعر خپل زړه رڼا ته پرې ايښی.
شاعر خپلي سترګې لمرونو ته خوشې کړي. شاعر خپل غوږونه د خيال په اقليم کې کرلي.
او داځل د لمر، سيند او سپوږمۍ له ختې راوتلی مين انسان،
شاعر انسان او غږ غږونکی انسان،
هلته لېرې د هماليا له څنډو،
هلته بر د نارنجو او ناريالو له باغونو،
هلته د سرو درمندونو او د څپرې له خوبونو،
هلته د سلګونو زمانو له جنازو بيا او دادی بيا را وينبېږي او وچ سکوت غږوي.
«هلته تخت د لامکان دی په مابين کې چې ځليږي
سترخالق ور باندې ناست دی او شغلې يې پورته کېږي
بې حسابه يې لمرونه له شغلې څخه شرمېږي
حقيقي آهنګ غږېږي او د زړه تل ته رسيږي
دايمي چينه روانه مرګ او ژوند پکې بهيږي
دی جوهر د حقايقو په ظاهر نيستي ښکاريږي.» ستر عارف کبير
***

**د بدن کورګی**

سهار مې مندې وهلې او دغو کلمو په ما کې خپلې مندې ووهلې:
پريوځم. غځيږم!
دادی پښې وغځېدې، لاسونه هم اوار وغځېدل،
ټول بدن په ځمکه پريوت؛ وغځېد.
زه د خيال په سترګه خپل کالبوت ته ګورم. پښو ته ګورم؛
پښې آرامې دي.
لاسونو ته ګورم؛ آرام غځېدلي دي.
کالبوت ته ګورم؛ آرام پرت دی.
څه شوې هغه ورځنی غورځې پرځې؟!
څه شول هغه د واټنونو څټ ته وهل.
څه شول هغه د څيزونو، دريځونو، او پايلو لاندې کول- لاسته راوړل؟!
ما فکر درلود، خيال او احساس مې درلود،
ژوند او هيلې مې درلودې،
تلوسې او بيړې راسره وې،

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوندونه او دردونه مې په حواسو زبېښل او څکل...
نه، دا وچې او تشې او غځېدلې پښې څه نه لري!
په دغو کې هغه ښکلا نشته کومه چې په ما کې روانه وه
او دغو غوښو او پوټکي ورځخه وړانګې کولې.
زه هغه مينه، هغه چوپ خوند، هغه نه شمېړلي هوسونه نه وينم. څه شی نه دي پاتې.
هغه د خاطرو ښار له ما وتی.
زه يو له غوښو او هډوکو جوړ کالبوت ګورم.
زه د ځمکې او آسمان، سيند او توفان، اور او خاورې يوه سره دوړه وينم،
چې دلته په دغه پروت بدن کې را غونډه شوې او زما نوم وربانديې سيوری جوړکړی.
پښې او لاسونه، سترګې او غوږونه، خوله او پکې ويده غاښونه ګورم؛
خو زه نه يم. دا بدن خالي دی، تش دی.
کالبوت زما نښې نلري. د مينې او اګاهۍ ګوربت له دې بدن ځخه الوتی.
دا بدن يو لباس دی، يو واسکټ دی، يو پوښ او کورګی دی. زما په کې څه نشته. زما نښې يې هېرې کړي.
دا جسم زما کور دی.
زه په دې کورکې د خدای ليدلو او اورېدلو ته راووتم.
ما په دې کورکې د غږونو او رڼاوو کاروانونه تجربه کړل.
زه په دې کورکې د کلام او رڼا په ډک جام پېښ شوم.
اوس زه وتی يم. دا تش کالبوت دی. دا زما کور دی؛
خو کور زه نه يم. زما بدن د مينې، آزادۍ او آګاهۍ له جوهره جوړ دی او جوړيږي.
بدن پروت دی، حواس ورځخه وتي، فکر يې نشته، خيال دمخه ورځخه الوتی.
بدن کې څه شی نشته، زه هغه نه حس کوم.
بدن ته ګورم او وايم؛ ژوند عجيبه باد او باران و چې پردې جسم تېر شو.
ماشومتوب عجيبه ليونتوب و چې دا جسم يې سپين او تازه په پښو وېنځاوه.
ځواني عجيبه اور و، چې دا بدن يې په منو او باغو واړاوه.
او اوس دادی هغه شېبه په شېبه زړيږي او شنو خاورو ته ورته کېږي.
دا د سيند او خاورې کندولی يو موسمي لوښی دی چې ارواح پکې د خپل نااشنا وطن مينه تجربه کوي.
هی، هی، څومره عمرونه او منزلونه او د بدن کورونه مې په ځان ځوان او واړه او زاړه کړل؛
ترځو پوه شوم چې بدن يوازې يو کور دی، يوازې د ارواح لپاره يوه له غوښو جوړه جونګړه.
ارواح يوازې له خدای سره اوسي؛ او ددې هرڅه کور يو دی.
زه يم، خو هغه بدن نه يم.
زه يم، خو هغه جسم نه يم.
زه يم، خو خاوره او اوبه نه يم.
زه يم، خو اور او لور هم نه يم.
زما پټه خلا او تشه ده.
زه يم، خو دا بدن نه يم.
دا زما لپاره د ځان پيژندنې اساسي زده کړه وه.
ما تجربه کړه، چې وجود مې بې بدنه اصيل جنس دی.
دا زما لپاره د اروا سفر ته ورته تجربه وه.
خدايه! بس مې دي، ښايي تر ټولو ستره زده کړه همدا وي.
***

**د روح سترګه**

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوند ښايست دی.
ځمکه ښايست ده.
هستي، ستوري، سيندونه، غرونه، شنيلي او انسانان ښايست دي؛ ښايسته دي.
هرڅه ښايست دي.
روح ښايست دی.
که د روح په سترګه وګورو، هرڅه په ښايست اوړي؛ ښايسته کېږي.
هرڅه د ګلونو رنګ اخلي.
د روح سترګه د مينې سترګه ده.
روح ټول شيان د خدای ګڼي او خدای هر ځوک او شی ښايسته پيداکړي،
نو زموږ سترګو دا تور، برګ، خړ شيان او دومره بې شمېره دښمن له کومه کړل؟!
کار کار د ذهن او حواسو دی. يوازې د روح په سترګه خدای ليدلای شو.
***

**لوی مينه ګر**

رنځور انسان هيلي نه لري، اميد يې نشته، خفګان يې ډېر دی؛
ځوک يې مرسته نه کوي!
هغه نه پرځمکه سيوری لري، نه په آسمان کې ستوری! هغه ګيله من دی.
هغه تيارو په مخه کړی، خو ناڅاپه د شفا لاس په خپلو غړو احساس کوي
او د دردونو پېټی يې له اوږو لوېږي.
يوه د جسم شفا ده چې ډاکټر ته به ورځو؛
يوه د زړه شفا ده او زړه يوازې خدای ته پرانيزو او خدای پر موږ خپله مينه اوروي!
موږ د خدای په مينه کې ساه اخلو، ژوند کوو.
زموږ بقا له مينې ده.
***

**د کلمې باغ**

غږ او رڼا د کلام او رڼا د مينه‌ګر سمندر په لور زموږ بيړی ده.
دغه بيړۍ ورځ تر بلې زموږ دننه جوړېږي،
موږ د ويښې او خوب، خيال او زړه د سفرونو په ترڅ کې دغې بيړۍ ته بادوانونه جوړوو او بيړيوان کيږو.
موږ به د ورک کور لپاره د زړه ډيوه بلوو.
دکلمې کاروان په دومره غږونو او رڼاوو کې را روان دی.
زړه ددې کاروان لاره ده. زړه دکلمې باغ دی او دا باغونه به راوېښوو.
زموږ غزلې، زموږ شعرونه، زموږ خبرې ټول ددغه وچ او کنګل وهلي باغ په لور ور الوزي.
موږ به د زړه باغ له غزلو جوړوو او دا هرڅه به سترمينه‌ګر ته ډالۍ کوو،
ځکه چې زړه هم د ستر مينه‌ګر کور دی.
***

**د طبيعت ژبه**

(c) ketabton.com: The Digital Library

د زړه د هيواد هستوګنو!
تاسو د خدای په غړوره نړی کې د ژوند او مينې تجربې کوئ.
تاسو د باد او باران، تالندې او شپيلۍ د غږ په رڼا کې
د کلمې رنګونه او بزمونه ګورئ.
موږ کډوال يوو او د غړرڼا دغه کډوالتوب هره شېبه غړوي.
راځئ د طبيعت ژبه زده کړو.
آيا له يوه ماشوم سره په دې کار کې سيالي کولای شو؟
که يو ماشوم په باد او باران، تالندو او لمرونو کې را لوی شي،
نو هېڅمهال به په الف او با را سره ونه غړېږي،
د هغه به د ټول طبيعت ژبه زده وي.
نه، په ښې به نه ګرځو؛ دا د عقل ژبه هم يو امتياز دی،
خو زړه به پرېږدو چې له باد او توفان او سيندونو سره ګډ شي
او خدای د مينې سندره واوري چې ټول طبيعت ورڅخه جوړ دی.
***

**سپينه لمبه**

استاد مريد ته ووېل:
مينه لومړی پر زړه باندې کښېني او د مينې په ښه را څرګندېدلو سره ته آزادي مومې.
او بيا د آزادۍ په درلودلو سره ده چې يو انسان ټول حقيقت مومي.
که چېرې له ټولو شيانو تېرشوو؛ نو حقيقت ټول څېزونه په غېږ کې نيسي.
مينه يوازې مخ پر يوه خوا لاره وهي، هغه د هستۍ زړه دی.
مينه د خدای پر لور جذبېږي.
او مينه هغه وخت را څرګندېږي چې روح راوېښ شي او د ذهن د شيانو، شکلونو،
حجمونو او ځان ستاينې معبد د صوت او نور په سپېڅنه لمبه کې وسوزي .
استقلال، خپلواکي او آزادي هغه اصطلاحات دي چې موږ د خپل فردي ژوندانه اصلي تل ته رسوي.
انسان د روح په توګه له آزادۍ سره اشنا دی،
خو له کومې چې د زمان او مکان، مادې او انرژۍ قلمرو ته راغلی،
نو بيا يو وګړی د ځان لپاره آزادي د مادي قلمرو په پراختيا کې ګوري.
***

**چېرې نه ځو**

که چېرې وګړي د نورو د آزادۍ شخصي قلمرو ته په درناوي سره وګوري،
او د نورو پر آزاديو تېری و نهکړي،
د ځمکې پرمخ د جګړې اور سړېږي،
شخړې او ورانۍ پای ته رسېږي
او انساني انرژي په مثبت او خلاق عامل بدلېږي.
تخليق مثبت دی؛
خو موږ شيان او سړي منفي وينو.
زموږ منفي ليدل دومره ژور تللي چې پرته له ځان څخه هرڅه منفي برېښي،
خو خدای شته.
ځکه هېڅوک نشي منفي کېدلای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که مو منفي کول پرې ایښوول، یوازې خدای پاتې کېږي.
او بیا چېرې نه ځو، پرته له خدایه هېچېرې نه ځو.
***

### کور غړوول

د هر وګړي(ښځې یا نر) اصیل هیواد دننه دی.
زما کور د زړه له خاورو جوړیږي.
زړه زموږ د ورکې دنیا کور دی.
زموږ هر یوه دنیا دننه ده. موږ خپله دنیا له ځان سره راوړې،
د حرکت ډګر دننه دی.
موږ پر ځان دننه ور میلمه یو.
موږ راویښېږو.
ویښه مو له خوب سره پېلیږی.
خوب زموږ ورک آسمان، زموږ ورک سپین غر،
زموږ هسکه سپینه ځاله د خیال د سترګې پرمخ پرانیزي.
موږ شپېلۍ کېږو او خپل کور غړوو.
***

### سرې کربښې پر غاړو

زما نسله، زما هېوادواله!
زما د دردونو او خوږونو همزولې جګړه او انسان وژنه
لا هم د اور په ژبه غږیږي او انسان وژنه
لا هم سرې، سرې کرښې غاړې او لاسونو ته را اچوي.
زموږ بدن ټوک ټوک دی.
او جګړه لاهم موږ چیچي، له موږ څخه ژوند اخلي.
موږ له مینې څخه بې برخې کوي.
او جګړه په زورور غم سره زموږ زړونه را سوځي، را وچوي.
موږ وصل او واده نه لرو.
موږ ټنګ او ټکور نه لرو.
موږ د واده شپې بستره نلرو.
د واده بستره د مینې له رنګه ډکه ده؛
خو جګړن فکر زموږ په لاسونو دوه نه واده شوي زړونه په وینو نقاشي کوي.
راځئ له دا ډول لاسونو لاس واخلو
او په زړونو کې سره کښېنو،
غوږ شئ خدای راسره دی.
***

### د غږ کتاب

غږ لومړنی مسافر دی چې د عشق او رحمت له ناپایه سمندره څپې را وهي.
غږ د هستۍ خبرتیا واوروله، او هستي راغله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټوله هستي د غږ له کتاب څخه راووته.
پرته له غږ څخه هیڅ شی نشته؛
غږ د وجود کلاګاني جوړوي.
دننه به ولاړ شو. د غږ ویالې او رودونه دننه دي.
ټول مینه وال د غږ پر څپو د ژوند د سمندرژیو په لور
د خیال پر وزرو وړیا الوتنې کوي.
مقصد مو د غږ هیواد دی؛
بېرې هم له خالص غږه را توغول شوې.
دا نه لیکل شوی غږ سپرغی ده او ماڼو هم مجسم غږ.
د غږ رڼا تازه ساه ده؛ زما او هرڅه ساه ده.
غږ او رڼا زموږ هستي ده او د ژوند بېړۍ ده.
موږ د غږ او رڼا د هیواد بهر وتي مسافر یوو؛
وطن دننه دی.
په غږ او رڼا کې سپرېږو، له غږ او رڼا سره منزل کوو
او د نور او رنګ نالیدلي قلمرونه په خپل زړه کې پرانیزو.
***

## غږ تیاره وینځي

انسان د غږ شپېلۍ دی.
هستي ویده ده؛ ترڅو د غږ او رڼا سمندر په یاد راوړي.
ژوند هغه شیبه ده چې غږ او رڼا به مو د خوب، خیال او تصور په بیړۍ کې ورولي.
موږ په خوبونو شرمیږو؛ ځکه په خوبونو کې خپل ربښتیا-خپل شرمونه وینو؛
خوبونه چاته نه وایو، حتا خپل زړه ته یې نه وایو؛
ایا خپل تل ته له ورکوزېدلو ویرېږو؟
موږ د غږ او رڼا په وچکالۍ کې دوتار او سه تار جوړوو.
موږ چینه په سمنټو او پولادي سیخانو کې ترړو
او اوبه له مارك داره بوتلونو څخه څښو.
ذهن موږ ته د هرڅیز څټ ته یو نه پېژندلی ډار پټ کړی.
ډار او شرم زموږ ذهني ماده ده چې په څېړو او څیزونو یې وینو.
یوازې غږ دی چې زموږ تیاره شرمونه او نه پیژندلي ډارونه وینځي او له منځه وړي.
که غږ نه وي نړۍ وچیږي، خوله او غوږونه له لاسه ورکوي،
له لاسو او پښو لوېږي.
که رڼا نه وي نړۍ زړیږي، مړه کیږي، ورکېږي.
غږ او رڼا هغه حرکتونه او غورځې پرځې دي چې موږ په تاریخ کې لیکلي.
موږ د غږ او رڼا په کینتۍ کې راغلي او په ځمکه او ستورو کې تیت شوي یوو.
انسان هغه وخت ویریږي چې غږ او رڼا نه وي.
دا مو زړه خاطره ده چې له تیارو ډډه کوو.
د بشر ډېره بوخته داده چې د غږ د غږولو او د رڼا د را څرګندولو لپاره له لرګو، اوسپنو،
او پلاسټيك څخه وسایل برابرکړي.
موږ داسي فکرکوو، چې رڼا او غږ زموږ د کار او فعالیت لپاره لازمي شیان دي،
په داسي حال کې چې ژوند پخپله همدا غږ او رڼا دی.
که غږ او رڼا نه وي هستي په یوه تور، تیاره او کاڼه کاني بدلیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غړ او رڼا د خدای له آسمانونو او نا اشنا قلمروونو را روان د ژوند رودونه دي.
زموږ دا دنيا او هغه دنيا غړ او رڼا جوړې کړي.
زړونه مو پوهيږي چې آسمانونه له نور او غږ څخه جوړ بې شانه وطنونه دي.
هلته اصيله رڼا او اصيل غږونه چليږي؛
هلته غږ د صافې سندرې له جنس څخه دی؛
هلته نور سيوری نه جوړوي؛
هلته هرڅه د نور او غږ له جنس څخه دي؛
هلته هرڅه د غږ او نور له سمندر څخه راوتلي.
موږ د هغه ستر سمندر وطن ورکي څاڅکي يوو.
زموږ زړونه د سمندر له سندرې ډک دي او ځکه کلام غږوو؛
ځکه نثر جوړوو؛
ځکه شعر راوړوو؛ موږ غږ غږونکي يوو.
او د بې وطنۍ غم د شعر په شپه او د شپېلۍ په يوه وچه نغمه غلطوو.
راشئ له کلونو را په کې بند غږونه خوشي کړو.
راشئ د خپل ستر شاعر شعر شو؛ غزله شو؛
مثنوي او دوبيتي شو.
شاعر زما ورك وجود دی.
شاعر خپل غږ شعر ته ور پرې ايښی، او شعر راولې.
د ژوندي کلام استاذ په خبره:
«تل خپلواک او آزاد اوسه، ځان د الله د غوښتنې لپاره وسيله وګڼه،
باور ولره چې په دې حال کې به ستا ټول ارزښتونه بدلون ومومي.»

***

## هستي غږوونکی

حرکت يوازې په فزيکي دنيا کې شتون لري.
او فزيکي دنيا نښو، اشارو، لارو، ګودرونو، غرونو، ګړنګونو، پولو او سرحدونو نيولې.
دلته به په هر پل اوچتولو کې اجازه غواړې؛
دلته به د هر ګام تاوان ورکوې؛
دلته به په خپلو تللوګامونو بېرته را ګرځې.
او د خپلو پښو تورخاپونه به بېرته ورهکوې!
هو ځمکه همداسې ده که نه ورانيږي؛
خو د روح لاره سپينه ده. روح پخپله لاره ده؛
لاره يې په ځان کې ده.
روح تل پخپله لاره درومي او دا هېڅ دوړې، ورانۍ او کندې، کپرې نه جوړوي.
د غږ او رڼا مينه والو!
ځای ستاسو دی، خبره ستاسو ده، او زمان هم ستاسو دی.
دا ځکه چې غږ او رڼا ستاسو دي،
غږ او رڼا د هرچا دي؛ خو د هېچا نه دي.
غږ او رڼا ځکه معصوم دي؛ ځکه پاک دي چې د ټولو دي؛
خو پر هېچا ککړ نه دي.
غږ او رڼا له آسمانه راغلي رودونه دي چې هستي زېږوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هستي په غږ کې ده، په نور کې ده.
نور او غږ له آسمانه ډک زموږ پر زړونو را ننوځي
او موږ د خیال پرسترګه دا ټول تجربه کوو.
***
.

**نه لیکل شوی غږ**

ورځنۍ ژبه زموږ د محاورې ژبه د معلوماتو او اطلاعاتو ژبه ده،
خو چې شپه شي د کار او بار، معلوماتو او اطلاعاتو نړۍ کډه کوي
او د چوپتیا او آرامۍ دنیا د شپې لـه تیاره اقلیمـه زمـوږ د شخصـي او فـردي ژونـد نـا اشـنا دنیـا کـې غېږ غوړوي
او نه ویلی کلام په غږ راځي.
آیا کله مو د سکوت ترانه اوریدلې؟
آیا د چوپتیا شپیلۍ مو ځان کې نیږدې نیږدې موندلې؟
آیا ژوندۍ وینا مو اورېدلې؛ ژوندۍ وینا همدا نه لیکل شوی غږ دی!
غږونه دوه ډوله دي:
وارناتمیک؛ هغه غږ دی چې په کلمه اوړي، شعر، نثر، نظم او متن جوړیږي.
دا غږونه وېل کېږي، لیکل کېږي
او فزیکي ژبې جوړوي.
دهوناتمیک؛ هغه غږ دی چې نشي لیکل کېدلای؛
توري او نښې یې نشته؛
دا لومړنی غږ دی؛ تلپاتې موسیقي!
دا غږ شتون لري؛
خو په لیک کې نه را ښکاري؛
شتون لري؛ خو هندسه، څېره او اندازه نه!
***

**د چنار پاڼې چې شعر وایي**

غږ آزاد ټولګی دی. موږ د غږ او رڼا کډوال بچوړي یاستو.
غږ نه ویل شوی شعر دی؛ شعر به موږ راولو!
غږ هر لورته په هرڅه کې څپې وهي؛
شعر ته هنداره موږ جوړوو،
زموږ د خیال دنیاګانې د غږ درې او ورشوګانې دي.
نو ټوله ځمکه مو یو شاعرانه کلی دی.
عزیزانو!
د شاعر د کلمې په اوریدلو سره ځانونه پردي مه احساسوئ.
هر انسان شاعرانه کلمه ده.
شعر زموږ ژوند دی.
شعر د لمر ځلانده پلوشې دي.
شعر د سیند د اوبو غږ دی او د چنار په پاڼو کې د باد ځغلنده سندره!
نو ژوند او هستي د شعر د یوه ستر دیوان بیتونه شول.
تاسو خپل د خیال باغونه پرانیزئ، هلته یو شاعر ویده دی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

راويښ يې کړئ، نوم يې واخلئ.
نوم يې ستاسو په شان دی،
څېره او ښکلايې هم ستاسو په شان ده؛
هغه کټ، مټ ستاسو په شان دی.
***

**شعر پيدا کول**

موږ شعر زده کو، شعر وايو، شعر ليکو؛
خو آيا شاعر شوي يو؟
راځئ په دغو پوښتنو يو څه له ځانه سره تم شو:
- زه شعر جوړوم که شعر پيدا کوم؟
- شعر نيکمرغه دی که شاعر يې؟
- که شعر نه وای زړه مې په کومه ژبه غږاوه؟
- زه شعر په خيال کې پيدا کوم او که خيال په شعر کې؟
- که مينه نه وي شعر په پيغور نه بدليږي؟!
- که غږ نه وای شعر مې له څه شي جوړاوه؟
- هغه څه چې دننه په زړه کې لرم، څومره يې په شعر کې راوستی شم؟
- زه شعر جوړوم او که شعر پېدا کوم؟
- آيا وس نلرم چې ټولې هستۍ ته شعر ووايم، کله مې دا هڅه کړې؟
«هستي» يوه ده؛ يوه کلمه؛
خو له ټولو شعرونو او سرودونو زياتيږي، لا څپې وهي.
هستي خپله«غږ» ده؛ غږ پر ټولو کاغذونو زيات؛
خدای همداسې راليږلی!
***

**د غږ تاج محل**

شعر د غږ يوه رنګينه ننداره ده.
شعر د غږ وزرې دي. او په دغه سيمرغ کې ازلي شاعر مزل کوي.
د شاعر کور ها خوا دی.
پخپله زه هم نه پوهيږم؛
خو دومره زړه مې نيولی چې د خيال په سيمرغ کې والوزم.
هر څوک، هر شاعر د شعر له ختې د خپل خيال د ناوې لپاره د غږ تاج محل جوړوي.
شعر د غږ يوه څېره ده او پخپله غږ لوی شعر دی چې پولې نه لري.
شعر د غږ او رڼا له جوهر څخه د خيالي مجسمو جوړول دي.
که چېرې د غږونو جوهر ووينو؛
که چېرې نه ويل شوی شعر واورو؛
که چېرې بې تورو او ليک شعر تجربه کړو؛
نو ټول اورېدلي شعرونه به مو له ياده ووځي.
***

**بې‌سواده غږونه**

(c) ketabton.com: The Digital Library

شعر په یوه معنا ریتم دی، آهنګ دی، هارموني ده،
او شعر انډول دی.
که موږ د ونې په پاڼو د باد د څپو اورېدلو ته کښېنو؛
نو هغه هم یو شعر را اوروي؛
خو بې معنا!
که چېرې د مرغه نارې واورو؛ نو بیا د شعر ځانله قالب اورو؛
خو بې معنا.
ډېر غږونه دي چې ریتم او آهنګ لري؛
خو معنا نلري یا موږ یې په معنا نه پوهیږو
یا موږ تر اوسه نه دي معنا کړي؛
نو هستي ټوله شاعرانه شوه او زموږ غوږونه بیسواده!
موږ د معناوالې ژبې شعر اورو، زده کوو او شعر بیا لیکو؛
خو څه وخت به د باد او سیند، توفان او باران،
لمر او سپوږمۍ د غږونو شعر په یوه نوې ټولګه کې انځوروو؟
هی هی، د طبیعت هر غږی ژوندی شعر دی.
باد شعر دی او توفان ژوندی شعر دی.
پسرلنی نهاګی او د ورانو زیارتونو وچې ونې شعرونه دي.
غر او په غره کې ویده ماران او د ګوربت ځالې شعرونه دي.
دنیا د شعر له جنس څخه جوړه ده او زه له کتاب پرته شعر نه لرم.
هی هی، کتابونه خو سترګۍ(عینکې)شول.
خدایه!
ایله مې دومره زده شول، چې څه مې په سترګه نه؛
په سترګیو لیدلي؛
«سترګه» مې لا نه ده راویښه شوې.
د غږ کنډو کې به کښېنم؛ ګوندې سترګه راویښه شي.
***

**د غږ سپوږمکۍ**

ځمکه د روح ښوونځی دی.
روح ددې لپاره د بدن جامه اغوستې، چې د خدای ویش او اګاه همکار او خدمتګار شي.
بدن د ارواح موقت کور دی.
ارواح شپه او ورځ د خپل کور په لور ګوري.
د روح کور په نور او صوت کې دی.
موږ د عمر په دام کې د زوکړې، ځوانۍ او زړښت له ستونې تېرېږو
او دا خپل برخلیک ګڼو؛
خو روح تلپاتی دی. روح د حال په زمان کې دی،
او حال د خدای زمان دی.
روح د کالبوت په خاورین کور کې خوب وړی او داسې ګڼي چې ذهن ډېر هوښیار او غمخور سلطان دی.
ارواح به د غږ او رڼا د جام په ځښلو سره راویښیږي
او د ذهن پاچاهي به پرځان پای ته رسوي.
ارواح د غږ په سپوږمکۍ کې خپل ورك وطن ته ستنېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

***

**د بدن ځاله**

موږ هغه څه-څوک یو چې باید واوسو.
موږ پخپل دقیق موقعیت او شرایطو کې د بدن ځاله پرځان را چاپېره کړې
او دې له غوښو او اورګانیکو موادو جوړه ځاله کې اوسو.
روح ددې لپاره د کالبوت په خاورین کور کې دېره شوی،
چې د آزادۍ، عشق او حکمت په لاره کې خپلې زده کړې بشپړې کړي؛
نو موږ ټول هغه څه یو چې باید واوسو.
آه، موږ هرڅه لرو، موږ د خپلې اړتیا وړ هرڅه لرو؛ نور او غږ د روح غذا ده.
شکر خدایه دا کتاب چېرته را څخه ورک و،
دلته خو پرته له ما بل هېڅوک نه و؟
نه، نه، په دې کتاب لکه چې ما خپله پلټۍ وهلې وې؛
هی هی، ګناه مې ورکه شوه؛ اخر زه ورک شوم!
***

**د خیال په سترګه**

شپه پخه ده.
زموږ فزیکي غړي هم ورو، ورو آرام کوي.
دغو غړو کړۍ ورځ خپلې چارې ښې سرته رسولي، او اوس آرامۍ او چوپتیا ته لیواله دي.
د لاسو، پښو له آرام پاتې کېدلو سره سترګې او غوږونه هم آرام کوي؛
ذهن هم ویدېږي،
خاطرې او انګېرنې هم هېرېږي؛
خو په دې لوی سکون کې د موږ دننه نور حواس راویښېږي.
موږ د بلې سترګې له لارې نه پیژندلې ځمکې او هستۍ ګورو.
موږ بدن نلرو؛ خو ګورو.
پښې نلرو؛ خوګرځو.
خوله او ژبه او غاښونه نلرو؛ خو غږېږو.
غوږونه نلرو؛ خو اورو.
موږ هېڅ څرګند حسي غړي نلرو؛ خو هرڅه حس کو،
حتا ګلان، رنګونه، ښکلاوې او ددغه جنت ټوله تجربه وړیا ده
او دا زموږ لپاره الهی میلمستیا ده؛
نو زه هم تاسو او ځان پرېږدم چې د خیال په سترګه د آسمانونو په میلمستیا ووځي.
***

**په مین کلام سره**

موږ د غږ سندربول یو.
موږ د غږ رباب او شپېلۍ،
ویلون او سرنده یو. موږ خپل اصل غږ وو.
غږ زموږ اصل دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غړ په موړ کې بهيږي.
د موړ زړه پر هغه زاړه او لرغوني شاعر ډک دی.
شاعر زموږ د زړه دنيا په خپله مينه خوځوي، او موږ مينه کوو؛
ځکه چې پرته له مينې هيڅ شی شتون نلري؛
پرته له مينې د هيڅ شي شتون نشته!
نو ټول غړونه مو د مينې لپاره دي.
نومونه مو د مينې په لور پلونه دي.
موږ په مين کلام سره د مينې کيهان ته ور درومو.
***

**د غړ په پلونو**

غړ عاشق دی؛
عشق دی. هر غړ په معشوق پسې يوه ورکه چيغه ده؛
خپله عشق دی.
موږ غړيږو؛ ځکه د عشق په کور پسې لاره نيسو.
غړونه زموږ پلونه او ګامونه دي د هغه سپين يار په لور.
موږ په غړ کې بېرته کور ته ستنيږو.
غړ د کور لاره پيژني، او دادی بيا هم پل پورته کوو.
***

**ښکاريم زه د غړ لپاره**

موږ بې له دې چې پوه شو، په غړ کې لاره وهو.
موږ د غړ په وزرو سپاره يو.
غړ غړولي؛ غورځولي؛ ور بللي؛
غړ زموږ کور دی.
غړ لومړنی جنس دی.
غړ موږ راوړي او پرې ايښې يو، او دادی په غړ-غړ کې لاره وهو.
پر موږ د مينې غړ شوی؛ مينه شته!
د موږ پر مينې غړ ورځي
او موږ د مينې غړ ښکار کوي.
زه چې يم؛
هغه ښکاري دی.
زه ځم؛ ځان پرېږدم؛
کور مې د غړ يو سپين څرک دی.
زه ځم، د خوب پر وزرو الوزم؛ خپل سپين کور ته ستنېږم.
آه، کور؛ خو همدلته دی.
کور؛ خو زړه دی.
شاعر هم زړه دی.
مينه هم د شاعر او زړه ګډه سندره ده.
راځئ غوږ شو، خپل زړه ته غوږ شو.
د زړه شاعره وايه زه نور نه غړيږم، زه نور نه غړيږم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

***

**د نور خوراک**

روژه او ذهن پاك ساتل زموږ په زړونو کې د مينې رودونه راوېښوي.
موږ روژه پرځان، پرخپلو حواسو او پر خپل ذهن جوړه وو چې د زړه کور آباد کړو.
موږ سپين زړه د دنيا تر ټولو خوراکونو او مېوو او شهوتونو لوړ ګڼو.
موږ د دنيا دکور ترځنګ د زړه کور جوړوو.
زموږ ټوله ښکلا په زړه کې پټه ده. آيا کله زړه ته ورغلي يو؟
موږ چې د ذهن او حواسو روژه نيسو؛
نو د غږ او رڼا سمندر دننه غېږه را ته خلاصوي
او نور او غږ مو خوراك ګرځي.
***

**ټول د مينې له جنسه**

د مادي شپې د چوپ اقليم په دننه کې
زموږ د غږ او صوت کاروان
له تاسو سره د آبديت په لور لاره نيسي.
موږ غږ راوړي؛
غږ مو مخکښ دی.
غږ مو تګلوری دی؛
غږ موږ وربولي.
موږ د غږ په پټو او زينو د ورک کور لاره نيسو؛
موږ ځو، ټول ځو.
دا د ارواحو ستر کاروان دی.
موږ په مينه کې د مينې کورته؛
مينه، مينه ځو!
موږ د مينې په لور منزل وهو.
آيا دغه غږونه چې موږ يې کاروو؛ دومره ښايسته دي چې د مينې هېواد ته پښنه کېږدي؟
آه، مينه، مينه يوازنۍ کلمه ده چې د کور ور به پيداکړي.
هو، موږ مينې پيداکړي؛
مينه مو بقا ده.
موږ مينه يو؛ پيدا مو کړه؛
موږ ټول د مينې له جنس څخه يو. برکت دې وي پر دې پيژندنې!
بس لويه خبره همدا وه،
غوږ به شو چې زموږ په تل کې ويده مينه څه سرودونه را ته غږوي!
***

**پرته له هغه هرڅه دروغ دي!**

زړه زما او هغه کور دی. دا زموږ تر ټولو نيږدې حقيقت دی.
زړه مو په مينه ورکړی؛ د خدای لپاره مو زړه سپين ساتلای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اخر د خدای دی؛ موږ تش یو؛ څه نه لرو؛
خدای شته!
خدای لرو؛
خو په رښتیا څه غواړو؟!
خدای یوازې مینه کوي؛ ځکه شتون لرو؛
ژوند مینې غږولې، روزلی؛
او مخ په لومړني کور بیولای.
مینه خدایي ناره ده؛
زړه کې څوک نه ځایږي پرته له هغه نه!
خدایه!
څه نشته چې ویې غواړم؛
تا هرڅه راته غوښتي؛ ستا د مهر او مهربانۍ په خزانو یوازی تاسو اګاه یاست؛
زه یوازې غواړم چې ستا د ارادې او خوښې کرونده شم.
غواړم ستا رڼاوې او غږونه راشي او ما ټول یوسي.
هو، پرته له خدایه هرڅه دروغ دي!
***

**د الوت ډګر دننه دی**

کلمه مینه ده. کلام مینه دی؛
او همدا کلمه له موږه ورکه ده.
موږ ځکه په شعر زړونه تشوو، چې کلمه مو هېره ده.
موږ غږ نه پېژنو، رڼا مو ورکه کړې
او شپې د ډیزلو او غازو په تپونو او دودونو سبا کوو.
موږ د ژوند، مینې او کلام لپاره خپلې کلمې او غږونه د شعر په وزرو کې خوشې کوو.
زموږ د مینې لیک د نا اشنا مرغه په مښوکه کې د رانه ورک یار کور پسې مزل وهي.
د الوت ډګر دننه دی.
موږ ورک یو. مرغه هم ورک دی؛
کور هم ورک دی؛
لاره هم ورکه ده او کلام هم!
او ددې ټولو ورکو وړم زموږ له دننه راځي.
هو، شاعر زړه ښيې م.
شاعر زړه له سپین اور څخه جوړ مرغه دی.
ښایي ګوربت یې نوم وي،
ښایي سیمرغ، ښایي همای...
او ښایي د نور او غږ له جنسه جوړ مرغه!
دا مرغه شته؛
زه خپله یم،
ته خپله یې؛
کاشکې راوبینن شو!
***

**روح تر زمان مشر دی**

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوندی کلام:
«سپېڅلي ارواح په ټاکلي وخت، په خپله فردي طريقه عمل کوي»
روح د عشق سپرغۍ دی.
دغه ستره نښه په نور او غږ کې راغلې؛
چې په ځان خبرۍ او خدای خبرۍ سره بېرته راوېښه او د زړور ګوربت په څېر خپل هېرکور ته الوت وکړي.
روح ستر دی، مشر دی؛
اصلاً عمر نلري.
عمر په زمان پورې تړاو مومي او روح تر زمان مشر دی.
روح راغلی چې لومړني صفتونه زده کړي:
(عشق، اګاهي او آزادي).
***

**د غږ په ډیوه**

ځمکه زموږ شپه ده
او موږ د غږ په ډیوه د خپلو را نه ورکو او هېرو ځمکو لاره وهو.
لاره تیاره ده، پټه نشته،
پښه اېښول وېرې له ځان سره لري؛
خو ځیر به شو،
ګوندې (غږ) را باندې وشي؛
غږ واورو!
ګوندې کوم ډیوه په لاس سلطان په دومره یوازېتوب راننوځي؛
له هرڅه ډک شو.
راځئ زړه ته لاره ورکړو.
راځئ د زړه په پښو ووځو.
راځئ په زړه ځان وسپارو.
زړه عاشق دی او د اصیل یار کور یوازې په زړه کې دړه پرانیزي.
زړه په هغه څه زړه بايللی چې رښتیا هم شته.
زړه ښکلا لیدلي.
زړه د یار له عشقه ډک دی. راځئ زړه ته ځان وسپارو،
هو، رومي مولانا، رحمان بابا او نورو د کلام ستورو همداسې وکړل!
***

**مولانا؛ د کلمې سیلانی**

مولانا د کلمې اوسیدونکی دی.
مولانا کلمې وغړمباو، تالندو د کلام په اوبو تومنه کړ
او د برېښنا په اور کې ونځېد، وپرکېد؛
مثنوي يې راوړ.
مولانا کلمه پیدا کړه او کلمه يې رسوا کړه.
هغه د عالم، شيخ او مفتي په منصب لولپه شو؛

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مینې ګوربت راوړ.
هغه مخورتوب او د دانشورۍ دبدبه پرېښوه، له مقام راولوېد،
له منزله لوړ ولاړ او داسې ځای ودرید چې سترګو نور نه پېژانده.
هغه ته د عمر ټوله (سرمايه) بار او پېټی شوه؛ او بيا يې هرڅه د عشق په قمار ووهل.
مولانا رومی خپل نوم او القاب ټول په غړ ورکړل.
هغه د غړ او رڼا د استاذ مرید شو؛ هغه د نور ننداریې ته ودرید.
هغه هرڅه د شمس په نامه له لاسه ورکړل او د هغه د سترګو د څار او ژورې موسيقۍ لپاره شپيلۍ شو.
هغه په هغه سپين اور کې ځان وسوزاوه، چې د شمس له سترګو ور باندې اورېد.
موږ غواړو په ذهني سترګو او حواسو او وزرو سره دا مولانا بيا ومومو.
زموږ چلند کاغذي مطالعې او کاغذي کلماتو جوړ کړی،
او مولانا هغه وخت وزېږید، چې د کلمې ښار ته د شمس په سترګو ورسيد.
او دا د هستۍ تجربه وه.
دا د نور او صوت موندنه وه؛
نو موږ هم خپل دیوان او دفتر تړو او د کلمې او نور د اصيل جنس د تجربې په هيله سر په بالښت ږدو؛
ښايي د کلمې ژوندی سلطان را باندې پېښه وکړي!
هو، چوپتیا د کلمې مور او پلار ده.
***

**د سمندر رنګين کنډولي**

د غړ او رڼا پر ورږم سپرو دوستانو!
غړ او رڼا د ژوند دنيا ده. دغې سپېڅلې دنيا کې د ځانونو هرکلی کوو.
غړ را اوري.
موږ د غړ او رڼا کنډر ويالې یو. غړ موږ کري.
غړ موږ شنه کوي. غړ په موږ کې را ټوکېږي.
موږ او تاسو د غړ او رڼا په ننداره بدلېږو.
زموږ ښه شيان، زموږ مېوې، زموږ ښکلاوې؛
زموږ ځلاوې ټول له غړه او رڼا را ټوکېدلي.
غړ د هستۍ لومړنی ګام دی.
هستي، کاينات، ستوري، سيندونه ټول له غړه راغلي او پلي شوي.
او موږ يو بل ته د غړ او رڼا د سمندر رنګين کنډولي ورکوو.
***

**سکوت غړمبېږي**

شپه چوپتیا راوړي؛ چوپتیا ده؛
ده په سکوت ډکه؛
سکوت خپې، خپې؛ د شي او سړي په شمېر؛
لاړې، لاړې بهېږي؛ غړمبېږي.
شپه د چوپتیا په لور روانه ده.
شپه د سکوت په لور ور بهيږي.
شپه په سکوت کې خپل برخليک اوري.
او موږ هم له همدې سره سکوت ته ور کډه کېږو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

هو، خدای شته؛ موږ څه غواړو وایو؟!
***

### هرڅه مینه پیدا کوي

سکوت د میېن ژبه ده؛ مینه ده؛
مینه ده چې هستي پیدا شوې.
خدای پاک دا هرڅه مینه کوي؛
په مینه پیدا کوي.
مینه د تخلیق ژبه ده.
هستي خدای غوښتي، او هغه یوازې مینه دی؛ مینه کوي.
موږ په هغې هستۍ کې ژوند کوو چې د خدای له مینې ډکه ده.
راځئ خپلې خواوشا ته یوځل په مینه نظر وکړو.
آیا هغه (ګل) چې خدای د «زه» «ته» «هغه» او هر وګړی(نر یا ښځه) په ښه پیدا کړی،
تر اوسه مو ښکاره کړی؟
آیا ما تر اوسه خپلې دننه ښکلاوې رنې لیدلي او ښوولي؟
که داسې وي؛ نو جګړې څوك کوي؟ ژوند څوك وژني؟!
تر هغو چې(زه)وژنه کوم؛
بدرنګي ده؛ بدرنګه یم،
دوزخي یم، او خدای مې ورك کړی.
***

### د مینې څېره

دنیا د لویې مینې ننداره ده.
د دنیا هر جنس له عشقه دی. هر موجود د مینې څېره ده؛ ننداره ده.
دا مینه ده چې زما او ستا څېرې یې اغوستي.
موږ کولای شو له همدې شېبې د مینې په ژبه خبرې وکړو.
اصلي ژبه مینه ده. مورنۍ ژبه مینه ده، لومړنۍ ژبه مینه ده!
د مینې په ژبه انسان، حیوان، نبات آن کانی هم پوهیږي.
ډبره توږونکی له ډبرې سره مینه کوي
او ډبره ورسره ښویږي، ښایسته کېږي په څېرو او ښکلاوو را لوېږي.
دا لومړنی انځورګر دی چې را ښکاره کېږي!
ډبره هم یوه ویده مینه ده، چې د څټك په غږونو راویښیږي،
زه هم یو ویده عشق یم، چې د رڼا او غږ په سپین اور کې سوځم؛
راویښیږم.
***

### کیسه، کیسه‌ګر او نندارچي

ژوند سپینه پاڼه ده چې موږ وربانديې خپل برخلیك لیکو.
بدن زموږ دیوان دی؛ لاسونه بیتونه، سترګې غزلې، ذهن نقدونه.
ما خپل شعر هغسې راویستلای، څومره چې را په کې و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه په داسې چاپېریال کې اوسم چې پخپله مې ځانته غوښتی او لیکلی.
زموږ بدن، زموږ ځواني او زړښت، زموږ ناروغۍ او بدمرغۍ زیاتره موږ پخپله غوښتي او لیکلي.
که خپل کړه وړه او د فکر ډول ښه تر څار لاندې ولرو؛
نو پوه به شو چې ماتې او برې مو پخپله غوښتي او لیکلي.
نو چې هرڅوک خپل لیکوال شو، بیا کیسه، کیسه لیکوال او ننداره‌چي څوك شول؟
***

**د غږ ځېره او ننداره**

انسان د کلمې یو څرک دی.
انسان په نور او صوت کې پروت؛ خو ویده دی.
انسان ویده کلمه او ویده رڼا ده.
هغه دکلمې د سمندر کب دی؛
خو په وچه پروت او ځان سمندرزی ګڼي.
کلمه د هستۍ هېواد دی.
کلمه د غږ ځېره او سندره ده.
غږ کلمه په ډاګه کړې او کلمې زه، ته، هغه...ټول.
***

**زړور زړه**

موږ د کلمې شعر غږوو.
شعر د زړه په ګوتو جوړه نقاشي ده
او زړه هغه وخت نقاش راوځي، چې عشق یې خوب ور والوزوي.
عشق د زړه جنس ور اړوي؛ زړه زړور کېږي.
عاشق زړه په معنوي الماسو اوړي. زړه خپله ژبه داسې مومي؛
زه شعر ښېم.
***

**شعر د هرڅه ذات**

موږ شپه وینو؛ خو ستورو ته پام نه اړوو.
موږ ژوندي یو؛ خو ژوند نه کوو؛ ژوند د زړښت په خاطرو کې را په یادوو.
ټوله هستي زموږ ده او موږ خپله برخه ډېره خواره فکر کوو.
افسوس چې د شعر ژبه مو پرې ایښې، او ګیلې او نیوکې زده کوو!
افسوس چې د خیال سپین آس مو هېرکړی،
او د وزرماتو او پښو ماتو ټپسانو او کارغانو غږونه وباسو.
ژوند شعر دی. هستي شعر ده. دا شپه هم شعر ده،
نور نو موږ یاستو چې ژوند، هستي او دا شپه بېرته په هغه ښکلي شعر واړوو، چې د هرڅه ذات او جوهر دی.

***

**بې زړه شپې ورځې**

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو شعر څه شو، شعر ذهن تر پښو لاندې کړ.
ذهن ژوند، هستي، او دا شپه تر پښو لاندې کوي؛
ځکه نو موږ هستي او دا شپه په ستورو کې وچه تیاره کېږدئ وینو.
موږ شاعر زړه ویده پرې ایښی.
موږ مینه نه ده زده کړې.
موږ د میني په کولو شرمېږو. موږ ښکلاوو ته نه شو کتلای.
موږ خپل شاعر زړه ماشوم پرې ایښی.
موږ ژوند ته د ګناه په سترګو کتلي.
موږ ټول عمر په ناشکرئ کې تېرکړی؛ نه راوینېږو.
دردونه او خندونه ځکه سر اوچتوي، چې موږ مینه شوو.
په مینه کې (زه) او(ته) سوزي مینه کېږي؛ نوشعر همدا دی!
کله چې زړه غږیږي، شعر جوړیږي او انسان ګوري چې څه شپې ورځې وې چې بې زړه یې تېرې کړي!
***

**زه خپل یم**

غږ او رڼا په موږ کې ګام اوچتوي.
موږ د غږ او رڼا لارې؛ دریځې یو.
غږ او نور پر موږ لاره لري. د غږ لاره له سپین زړه ده. د نور لاره د خیال سترګه ده.
او شاعر انسان، ویناوال انسان بل څه نه لري پرته له سپین زړه او د خیال له سترګې!
شاعر او ویناراوړونکی په موږ هر یوه کې دننه ویده دی.
موږ که غواړو ښه کار وکړو؛ نو خپل ویده شاعر باید راویښ کړو؛
هو، شاعر ستاسو خپل دی. ته «خپل» یې. زه «خپل» یم.
***

**کله چې زړه له مینې ډک وي**

د ژوند سفر د کلمې سفر دی د هستئ په ستره لمن کې.
موږ له غږ او رڼا راولاړ شوي یو.
زموږ لاره په غږ او رڼا کې ده.
غږ او رڼا زموږ هستي را جوړه کړې.
موږ د غږ رنګینې ځېړې یو؛ نو له خپلو ځېړو سره به پاتې شو.
ژوندئ خبره:
«کله چې زړه دې له عشق څخه ډک وي نور نو د وېرې لپاره ځای نه شته!»
***

**برخلیک بلنلیک**

خدای مینه کوي او موږ د مېنې له جنس څخه یاستو.
زموږ د برخلیک پاڼه د مینې په رنګ لیکل شوې.
برخلیک مو د بېرته وربللو له مینې ډک بلنلیک دی.
زموږ راتلل د مینې راوړل او وړیا ویشل دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مینه هغه وخت موندل کېږي چې وشي. موږ چې څومره مینه ورکوو؛ لازیاته یې ترلاسه کوو.
مینه یوازېنی څیز دی چې نه اندازه کیږي.
مینه بې زمانه ده.
مینه ځواني او زړښت نلري.
مینه مرګ او ژوند نلري.
مینه فقط شته. مینه یعني زیاته مینه؛
ترپایه مینه؛
د هر څه مینه.
لمر ځکه دومره لوی دی، چې په ټول ځان رڼا او ژوند خپروي.
له لمره چې څومره غواړو هومره ګټه اخلو او لمر عاشق دی.
***

**بدن پل دی**

موږ یوازې همدا«اوس» ژوندي یو. پرون مړه ده، سبا لا نشته؛ یوازې اوس شته او زه اوسنی یم.
ژوند یعني دا څه چې یو! زموږ هستي په دغه بدن کې را ټوله ده، او دغه د بدن ماشین لویه ورځ له طبیعت، له خواوشا نړۍ، له خپلوانو، ګاونډیانو، او نورو وګړو سره د حواسو له لارې اړیکې نیسي. یوڅه نورو ته ورکوي یا ورته اوروي، یوڅه له نورو را اخلي؛ خو اوس څه نشته. زه دې همدې شېبې زوکړه یم.
بدن زموږ لپاره یو پُل دی. هغه څه چې موږ یې نورو ته ورکوو یا یې له نورو رااخلو، د همدغه پله له لارې ځي او راځي. آیا دغه د بدن حساس ماشین، دغه د راکړې او ورکړې پُل موږ ښه څارلی؟!
هغه څه چې زموږ په خاطرو کې ګرځي را ګرځي، هغه څه چې په ذهن او حافظه کې لرو، هغه څه چې موږ ته ښادي رابښي یا مو ځوروي؛
ټول موږ په خپله بدن ته ورکړي.
زموږ ذهن او د حافظې ماشین همدا شېبه څه غږونه او کلمات را اوروي؟
ښایي موږ له ناښادو غږونو او منفي افکارو ډک شوي وو؛ خو دا مو پخپله غوښتي.
دا چې نړۍ او خواوشا ماحول را ته تور او له تورو غږونو ډک بریښي؛ دا توره نقاشي موږ پخپله د خپل وجود دننه را جوړه کړې. موږ د ځان ساتنه سمه نه ده کړې.
موږ د غږونو او کلمو په یو ډک موسم کې ورځ تېروو؛ خو یوازې مو کاږه غږونه، ترخې خبرې، کرکې، رخې او سخت عاطفي دردونه، پخپله را پرې ایښي، چې زموږ آرامه شپه له چېغو او دردونو را ډکه کړي.
زموږ عصبي نآرامۍ، زموږ د تن دردونه، زموږ د زړه خفګان ځکه را منځته شوي، چې موږ د بدن د وتو او ننوتو دروازې ښې نه دي څارلې.
موږ هغه طلایي لمر، چې ټوله ورځ په چوپ اواز پر موږ اورېده او مینه یې راسره کوله؛ نه دی پرې ایښی، چې زړه ته مو را دننه شي.
موږ هغه مرغه چې د ونې له پاسه یې وړیا سندره را ته ویله نه دی پرې ایښی، چې را دننه شي او په موږ کې ځاله وکړي او اوس را ته تازه تازه سندرې وغږوي.
موږ هغه ماشوم چې بې مقصده یې را ته خندل، په خپل زړه کې نه دی پرې ایښی...
موږ ډېر ډېر څه نه دي پرې ایښي چې خیال، ذهن او حافظې ته مو راشي، نو دا د ذهن او حافظې سره شپه مو پخپله جوړه کړې.
که له دې سرې تبې د شپې سرې او چوپې غېږې ته ننوځو، ښایي هوسا شو.
ښایي هغه غږونه د زړه په غوږونو واورو، چې هېڅ خوله او هېڅ فزیکي اله یې نشي جوړولای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هیله ده نن شپه یو ښه پیل وي.
موږ د خدای د نور او کلام په لویو کیهانونو کې د خیال مزل پیلوو؛ چې خپل عاشقانه بخت تجربه کړو؛
چې د عشق، پوهې او آزادۍ د آسماني سرچېنې په مینه ناکه غېږ کې خپل معنوي سفر پرمخ بوځو.
***

**د هستۍ رنګین باغ**

هر انسان تر هغه ډېر زوړ او پوخ عمری دی، چې له څېرې یې ښکاري.
انسان روح دی، او روح مخکې تر دې چې زمانه پیدا شي، و!
نو دغه ژوند د روح لپاره یو فصل دی.
روح له الله څخه راغلی. او له الله څخه ټول راغلي شیان نیک، سم او پرځای دي.
موږ باید له یو بل سره د هغو رنګارنګ ګلانو په شان چلند وکړو؛ چې په باغ کې یو بل ښایسته کوي.
ګلان چې څومره رنګارنګ وي، ښه ښکارېږي؛ او بې بډای ښکاري؛
سرنوشت دادی چې هره الهي زره په ابدي ګل واوړي.
آیا موږ دا حق لرو، چې د هستۍ په دومره لوی باغ کې یوازې خپل رنګ ولمانځو.
یو رنګ څنګه ووینو، رنګونه باید ډېر وي، چې زموږ جلا رنګ ښکلا پیدا کړي!
کله چې د معنوي غوړېدنې هغه پړاو ته رسیږو، چې له نورو سره د وېرې، قهر او غرور پرځای په مینه چلند وکړو؛ نو د خدایي کور په لور د ورګرځېدلو په لور مو ستر ګام اوچت کړی.
***

**کور مو برخلیک دی**

د ادب او کلام دوستانو!
موږ غږېږو؛ ځکه چې زړه غږېږي.
موږ غږیږو، ځکه چې زړونه مو کور یادوي.
موږ غږیږو، ځکه چې کور را نه پاتې دی؛
کور مو برخلیک دی.
موږ آسمانونه هېرکړي؛
موږ په وچه کې لویدلي؛
خپل ستر سمندر مو هېرکړی...
موږ غږیږو، غواړو خپل کور او سمندر را په یاد کړو.
غږېدل د کور ذکر کول دي؛
نو د غږ او رڼا د کاروان هم مزلو د نارو له همدې ګامونو سره ستاسو خیالونه، احساسات او له نقاشیو ډک زړونه ښکلوم او خپلې سرې شونډې د غږ او رڼا پربام خوشې کوم.
***

**سکوت ټوله وینا**

چوپتیا غږ ده، کلمه ده، پوهه ده؛
سندره او ترانه ده.
آیا کله مو د سکوت په اورېدلو زړه ورکړی؛ سکوت په زړه کې پرې ایښی؟
سکوت دکور لاره ده.
سکوت نه لیکل شوی کتاب دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سکوت نه زېږېدلی شعر دی.
ایا موږ یوازې په سکوت او چوپتیا کې تازه کلمې،
تازه افکار، تازه ویناوې، تازه سندرې موندلې، لیدلې او راوړې دي!
***

**سکوت ناآشنا ژبه**

موږ هغه وخت د یار غږ اورېدلی شو چې غوږ شو.
غوږ اینبوول لوی هنر دی. موږ ټول هنرونه زده کولای شو؛ خو په خپل تل کې ویده سکوت مو لا نه دی لوستی؛
سواد مو ورك کړی!
دا ځکه چې سکوت بې بېې دی،
سکوت څوک نه را باندې خرڅوي،
سکوت وړیا دی، سکوت زموږ خپل دی؛
مخکې تر دې چې وشو سکوت و. لومړی سکوت و بیا غږ شو؛ راغی هستي یې راوړه.
سکوت ته به زړه ورکړو؛ څو د کور څرک وکوو. پرې به بېدو چې سکوت خپله نا اشنا ژبه زموږ پر زړه ولیکي؛
بې کلامه غږ همداسې لاره کوي.
***

**ژوندی کلام**

موږ هغه څه ته هڅه کوو چې د خپلو اړتیاوو په توګه مو منلي او زده کړي!
خو ښایي دا زموږ اصلي اړتیاوې نه وي! ایا جسم او ذهن زما اصیلې اړتیاوې پېژني؟!
که زما کور په جسمي یا ذهني حسي یا رواني پوړیو کې وي؛ نو ورځنی منډې مې د اړتیاوو لپاره دي؛
خو که کور په بې کوری، بې زماني او بې مکانی کې وي؛
نو بیا خپلو اړتیاو ته نه یم ورغلې؛ خپلې اړتیاوې مې نه دي په یاد راوړې؛
خدای شېبه شېبه زموږ یوه، یوه اړتیا را ته منظوره کړې. موږ د خپلې اصیلې اړتیا څېزونه شېبه په شېبه تر لاسه کوو.
هغه څه چې د خوراك، څښاك، پوښاك او هوسایۍ لپاره لرو، زموږ خپل نومونه پرې لیکل شوي.
خدایه! د ژوندي لیك، برخلیک، کلام په خاطر ډېره ډېره مننه!
آیا دا ژوندی کلام نه دی:
« د ژوندانه درسونه موږ ددې لپاره تزکیه کوي؛ چې غوره کسان واوسو»
موږ دننه په ځان کې د خیال لوی ښار لرو؛
موږ د لطیفو حواسو جلا فصل لرو؛
موږ د خپل پټ ښار په بهرني وره کې حیران ناست یو!
موږ دننه نه دي کتلي؛
موږ دننه څه شی نه دي موندلي؛
موږ خپل د ماشومتوب خوبونه هېرکړي!
موږ وچه خوله او نهار ولاړ یو.
موږ باندي د ښامار کیسه شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

موږ د ځان دننه شنه او سره کانونه نه دي پرانستي.
ښايي همدا شيبه زموږ لپاره ددغه لوی کشف ډګر وي؛ نو راځئ دا وړيا لاره په مخ ونيسو.
هو، له خوب او خيال سره به يوازې شو.
***

**ذهن سيوری دی**

غږ او رڼا له موږ سره دي. موږ د غږ په ډيوه د خپلو نا اشنا ځمکو په سفر وځو.
ځمکې دننه دي؛
قلمروونه، ستوري او لمرونه ټول دننه دي؛
د بدن وړوکی کيهان د هستی هنداره ده.
موږ څه شی چې غواړو؛ هغه وينو. تور رنګ د مادې رنګ دی.
ماده سيوری پېښوي. دغه د شپې سيوری هم د مادې سيوری دی.
څومره چې ماده انبار کېږي؛ سيوري په موږ کې نور هم لوړيږي.
تياره د مادې دېوال جوړه کړې. او دا ذهن دی چې د حجم هندسه کې ځغلي.
موږ د ذهن رنګونو او سيوريو او دېوالونو را ايسار کړي يو.
اصلاً سيوری نشته!
سيوری هغه پوله ده چې ذهن يې پيژني،
او د ذهن پېژندنه وچه ده، بې ساه ده، او مړه ده.
موږ يوازې د زړه له لارې ټوله هستي په ځان کې ځلولای شو.
او زړه به غږ مومي. زړه به غږ پسې لاره نيسي، زړه بې پښنو ځي.
زړه سيوری، دېوال، حجم او شپه نه جوړوي.
او همدا د غږ اصيله رڼا ده.
ژوندی کلام:«سترحقيقت په هيڅ کتاب کې نه دی ليکل شوی؛ بلکې ستاسو په زړونو کې ليکل شوی.
د نړۍ ټول کتابونه به بې ثمره وي؛ که چېرې ستاسو د زړه له پرانيستلو سره مرسته ونشي کړای!»
***

**زه د غږ يوه تالنده**

سمندر را چلېږي. زموږ زړه کې د غږ او نور د سمندر څپې نڅېږي،
غړمبيږي، تالنده او بريښنا جوړوي.
موږ د نور او صوت يوه فزيکي ننداره يو؛
موږ د نور يوه، يوه وړانګه يو؛
موږ د غږ يوه يوه تالنده ياستو!
هاى، ژوند، هستي، ځمکه، انسانان، څيزونه څومره سپېڅلي دي!
موږ د ستر سمندر د خولې شعر ياستو. موږ څاڅکي يو؛ آبدي څاڅکي.
څاڅکي نه مري.
څاڅکي د ژوند له جنسه دي.
هرڅه له آبدي جنسه دي. يوازې څېرې دي چې پور يې اخلو
او بېرته يې ايسته غورځوو او خپل اصلي وطن ته ستنيږو.
***

**ژوند يوازې ځغلي**

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوند را پکې ځغلي. شپه او ورځ ځغلي؛
دا نا پايه ډالی د يار له کوره پرموږ را اوري؛
موږ ته تن او پوست کېږي؛ کور او مالت کېږي،
موږ ته ژوند او چاپېريال کېږي.
موږ ته آسمان جوړوي.
موږ ته ستوري را ځړوي.
موږ ته د سپوږمی عاشقانه ډيوه بلوي.
دا هرڅه زما او ستا لپاره دي. موږ دومره ستر بزم راټوکولي او آزاد خوشې کړي يو.
هی هی، هستي څومره عاشقانه منظره لري او زه تازه په دې پوه شوم.
***

## معنويت پېل دی

موږ د نوې شېبې اوسيدونکي يو.
حاضره شېبه نوې شېبه ده.
همدا نوی کال، نوی پېل؛ معنويت نوی دی.
او معنويت د کلمې او نور فصل دی.
او موږ د کلام او نور د فصل اوسيدونکي، او دا هرڅه نوي او تازه دي.
موږ هم دا نوی معنوي کال د زړه په حواسو لمانځو.
موږ د زړه سترګو او غوږو ته ځان سپارو،
او د هستی د معنوي څېړې له ليدلو او اورېدلو خوند اخلو.
څومره ښه، هره شېبه کولای شو نوي، تازه او بې جوړې واوسو.
خدايه!
شکر د نوي عمر، نوي زمان او نوي پېل په خاطر.
***

## د چوپتيا ذکر

«ځمکه خو د خدای ده. اسمان خو د خدای دی. دوزخ خو د خدای دی. سيندونه او کانونه خو د خدای دي...پرته له خدايه د بل چا نوم اخيستل، بل څوک يادول شرک دي.
ارام اوسه هېڅ نه شته، يوازې خدای. خدای ته ځان او زړه وسپاره، خدای له تاسره دی.
هرڅه د خدای نښې دي. هرڅه خدای پيدا کړي. او خدايي پوهه کامله ده؛ هېڅ مهال نه تېروځي!»
شپه همدا ده چې نه غږيږي. څوک هغه وخت نه غږيږي، چې بل غږيږي.
د يوه دوست ښه ملګرتيا داده چې ښه غوږ ونيسي. او شپه غوږ ده.
شپه اوري.
شپې څه ته دومره لوی سکوت جوړکړی!
موږ چې چوپ شو، څاروي چې چوپ شي، مرغان چې چوپ شي، بادونه او بارانونه چې چوپ شي؛ څه به غږيږي؟!
خدای چې شته زه به څه ووايم!
خدای چې لرم، زه به څه وغواړم!!
اه؛ خدايه زه غوږ ږدم، زه غوږ ږدم،
ټوله چوپتيا ستا له ذکره ډکه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

***

**له ذهنه لوخ**

غر د رود او باران، لمر او توفان او هرې ساه په څېر روان دی.
غر زموږ پېل دی.
موږ له غر سره شوي یو.
غر لومړنی دی، او روح لومړنی دی،
او پرته له متعال خدای بل هېڅ نشته!
څېرې د خوبونو څېرې دي، شیان د خوبونو شیان دي.
مادي پایښت نه پېژندلی خوب دی. څو چې مادي وو؛ خوب او خوبولي به وو!
زه د غر یوویده کندولی یم، یو نوم یم.
موږ کلام څرګندوو، کلام سپېڅلی دی. هستي سپېڅلې ده.
غر، او کلام او هستي ټول ښکلي دي،
او ښکلا سپېڅلې ده.
ښکلا د یوې ښکلې ارادې؛ ښکلی تصویر دی چې د خیال سترګه یې تجربه کوي.
ښکلا شته؛ خو چې ولیدل شي.
کلام شته؛ خو چې واورېدل شي.
حقیقت شته، خو چې له ذهنه لوخ ورووځو.
هرڅه شته، خو چې لیدلو او اورېدلو ته یې سترګې او غوږونه را ویښ کړو.
او داسې سترګې او غوږونه دي چې عرفان او معنویت خوځوي.
موږ د عرفاني دیوانونو او دفترونو په کتلو او لوستلو سره؛ هغه تجربې له ژبې تېروو چې د معنویت ستورو د کلمې په ښار او اقلیم کې په یوازېتوب کې کړې.
لکه د رحمان بابا د کلام او شعر اقلیم؛
«دا دنیا ده خدای له عشقه پیدا کړې
د جمله وو مخلوقاتو پلار دی دا»
دې شنې ورشو ته ټول ازاد وربلل شوي یو.
له ژوندي کلام یو بل غږ:
«کله چې د خدای پاک د مینې او عشق په باره کې خبرې کوو، باید په یاد ولرو چې د خدای مینه بې قید او شرطه ده.
خدای دې ته اړتیا نه لري، چې خپله اراده د هغو وګړو له لارې عملي کړي؛ چې په مینه کولو نه پوهیږي»
***

**کامل عشق**

یوازې عشق دی چې هستي لري.
عشق بقا دی.
عشق ژوند دی.
عشق زموږ برخلیک دی.
موږ عاشقانه ارادې راوړې؛ د عشق څاڅکي یو.
موږ عشق را زرغونوو؛
ځمکه د عاشقانه قدمونو واټ دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مور که خپله اراده عاشقانه کړو، او یوځل ټولې هستۍ ته په عاشقانه سترګو وګورو؛
نو ټولې تیارې سم له واره مرې. تیارې حقیقت نلرې.
تیارې هغه دېوالونه دې چې ذهن زموږ د روح پرخواوشا جوړکړې.
یوه بله ژوندۍ وینا:
«موږ په ژوندانه کې له ټولو هغو شرایطو سره مخ کېږو؛ چې ژوند یې لرې. او له کوم ژوند سره چې مخ یو، هماغه ژوند دی چې موږ یې وړتیا ترلاسه کړې. همدا بشپړ عدالت، بشپړ حقیقت، او همدارنګه کامل عشق دی.»
***

**د ناآشنا ځمکو مسافر**

د وخت ژوندی ویناوال هارولد کلمپ:
«غم مه کوئ، هرڅوک په ټاکلې سطح کې قرار لرې. ځېنې له تاسو پورته او ځینې ټيټ دې. او دا څه غوره والی لرې؟ تاسو یوازې دا غواړئ چې د خدای لپاره پاکه مجرا او وسیله واوسی!»
راځئ یوځل د زړه په سترګو یو بل وینو. راځئ یوځل د زړه په ژبه له یوبل سره وغږېږو.
موږ هر یو یوازې یو.
زموږ ټولو اصلي وطن لېرې دی.
موږ ټول د ناپیدا ځمکو په لاره ور روان مسافر یاستو.
زموږ اصلي ټاټوبی مینه ده.
موږ مینه ورکه کړې، ځکه په شیانو له یوبل سره خفګان کوو، جنګیږو، مړه کېږو؛ بیا به پیدا کېږو؛ ځکه چې جنګیږو.
موږ څومره چې د شیانو پرسر یوبل وهو، ټکوو هومره مو اصلي مینه ورکېږي، لېرې کېږي.
یوازې مینه ده چې موږ ته ښادي، آرامي او آمن راوړې.
***

**دی هر وګړی یو ماشوم**

«نو ته خدای لرې. له خدای سره یې؛ خو پردې شرمیږې؛ له خلکو له عادتونو شرمیږې.
داسې ښکاري چې زړه دې له خدای څخه ډک دی؛ خو لا ماشوم دی؛ نوی راویښ شوی او ته هغه نه پرېږدې چې راویښ شي، له ځانګو راپاڅي او تا ته ځان ښکاره کړي. له تا سره وغږېږي.
واوره! ښه یې زده کړه؛ له هغه پټ ماشوم څخه چې نه پلار لري، نه مور لري؛ خو ستا په زړه کې له دا دومره زمانې ویده دی، پخلا شه!
له ما یا هغه مه وېرېږه. له هغه د هېڅ شي شرم مه کوه. داسې یو ماشوم د امنې په زړه کې هم و؛
د مریم په زړه کې هم و. د هر انسان په زړه کې هم دی...هغه که راویښ شي؛
شیان، ځمکه، اسمان، ستوري، کائینات، لمرونه، سپوږمۍګانې، وختونه، فضا...هرڅه ورکیږي.
هرڅه به وي؛ خو له خدای سره!»
کلمه جاري ده. کلمه غږیږي.
موږ، شیان، څیزونه، مرغان، څاروي، ستوري او د رود اوبه ټول دکلمې حاضر فصل جوړوي.
موږ که ددغو کلمو غوږ په ځان کې پرانیزو هستې ټوله مینه ناکه کېږي؛
نو موږ څه غواړو، چېرته روان یاستو؟
***

**هستي د معنوي غمیو صندوکچه**

(c) ketabton.com: The Digital Library

موږ هغه څوک یو چې باید واوسو. نورکسان هم هغه څوک دي چې باید واوسي.
هستي د ستر عشق له برکته را جوړه شوې؛ دغه بنه یې موندلې.
موږ پرته د عشق له ظاهرېدلو بل څه نه وینو.
هستي د زمان او مکان په قلمرو کې د خالص عشق انعکاس دی؛
نو هیڅ شی اضافي، بې ځایه او ناروا نه دي.
یوازې زموږ ذهن دی چې ځان روا او نور ناروا فکر کوي.
موږ باید له ټولې دغې هستۍ سره چې کرکه مو ترې کړې، او بده مو ګڼلې؛
روغه وکړو؛ مینه وکړو.
سوله یوازې په عاشقانه زړونو جوړېږي.
زموږ ژوند، چاپیریال، هیواد، دنیا عاشقانه ارادې جوړ کړي؛
خو موږ په مینه شرمیږو، د عقل او فکر لویان یو؛
څو ماشومان نشو مینه نشو کولای!
***

**هستي پرته له خدایه حس کوو!**

موږ د الهي غږ او نور په دنیا کې اوسو.
هر وګړی، هر ژوندی موجود، هرڅیز؛ نومول شوی؛ په ډاګه شوی.
هر وګړی یو خالص غږ دی چې موږ یې نوم-کلمه یادوو.
هرڅیز یو غږ دی؛ منعکس غږ؛ ټول غږونه موږ ته غږیږي.
رڼا زموږ ده.
دغه دوه آبدي جریانونه ټوله هستي تغذیه کوي.
موږ چې څه خورو،
چې څه څښو،
چې څه موږ ته د ژوند ځواک را کوي؛ ټول د غږ او نور له سمندر را اورېدلې د عشق مېوې دي.
موږ غږیږو؛ خو غوږ اینسودل مو لا نه دي زده کړي.
موږ خپل غږونه اصیله او برتره ژبه ګڼو او د طبیعت په میلیونونو ژبو هیڅ نه پوهیږو.
موږ هستي د خپل لګښت هتۍ ګڼو؛ خو هستي د خدای ده. هیڅ شی پرته له خدایه نشته.
له هرڅه به ووځو؛ خو د خدای له قلمروه، د خدای له مینې، د خدای له هستۍ نه شو وتلای.
موږ هرڅه وینو، هرڅه اورو، هرڅه حس کوو؛ خو خدای...آ، سوځم؛ نه یې شم ویلای!
***

**څه چې وینو ژوند دی**

هغه ژوند چې په یوه لېږې او یوازې وچ زړي کې دی، په ما او تا کې هم دی.
خدای هماغومره د ما هم دی چې د زړي هم دی.
ستوری هماغومره هغه یوازېنې ته ورنیږدې دي، چې د تبت د وچو ډاګونو وچ کانی نیږدې دی.
خدای شته او تر هرڅه نیږدې نیږدې؛
له نیږدې هم رانیږدې دی؛
له«ځان» چې ورتېر شو!
خدای دلته دی، هلته دی...نو زمان او مکان له کومه شول؟ ماده او انرژي له کومه شول؟
خدایه! حقیقت یوازې ته یې؛ زه دېوال یم او ټول دېوالونه مادي دي!

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا ما څه وکړل؟ ذهن مې ډک، جيبونه مې ډک، ګېډه مې ډګه؛
خاطرې مې ډکې، کور کهول ډک، کلی او کوڅه هم ډک...
زه د دروغجن زمان او دروغجن مکان دروغو پړسولی او لوړ کړی یم.
زه نه یم؛ دا هرڅه زره زره د خدای دي. او خدای د ټولو دی.
زموږ هره ساه، هر اواز، هر حرکت او هر پړک د خدای دي.
خدایه! څه چې دي ستا دي؛ نو هغه څه دې وشي چې ستا اراده يې غواړي.
شکر، خدایه په دې دعا سره مې زړه ته ډېره خوښي راغله.
خدایه! غواړم زړه مې همداسې سپین او تازه او له رنګونو ډک پاتې شي!
د نور او کلام دوستانو!
ژوند وکړئ؛ ژوند کول او د ژوند همکار کېدل لويه دعا ده؛ وګورئ ژوند څومره سپین دی.
راځئ خپل قضاوتونه له ژوند څخه پاک کړو، راځئ خدای ته سپین ور روان شو.
اها، زموږ ټولو کاروان سپین دی.
برخلیک څومره ښکلی شو؛ برخلیک تک سپین شو.
غوږ ږدم، ژوندی استاذ په زړه کې غږېږي:
«یو له هغو څیزونو څخه چې د حق د استادانو په حضور کې یو وګړی ورته لاره مومي؛ هغه د ځان په دننه کې د الهی عشق موندل دي. دا د وجود هغه نه پیژندلې برخه ده چې د چا پام نه ورګرځي هلته دې عشق او مینه ومومي.»
***

### د غږ سنګتراش

د الهی عشق لوړو ته رسېدل، د هر روح برخليك جوړوي.
موږ ددې لپاره ځمکني شو؛ چې ورک آسمانونه بیا ولټوو.
موږ یوازې شو، چې د عشق په غږونو او رڼاګانو د خدای او هستۍ خدمت وکړو.
موږ ارواوې یو.
ارواوې الهي سپرغۍ دي.
روح د غږ په پښو او د رڼا په سترګو ځان ويني، د ذهن او حواسو تیارې او ژورې پيژني اوخپل اصيل وجود پرانيزي.
او اوس د کلام موسم دی.
کلام د هستۍ اساسي جوهر دی.
ارواح د کلام په الماسو خپل آسماني ښار جوړوي.
او د غږ او کلام سنګتراش ته بیا شاعر وايي.
شاعر د کلام له غرونو نه د فرهاد د اوبو چېنه راباسي.
او دا ټول د عشق برکت دی؛ نو دادی جوړه شوه؛
کوم شاعر چې د خدای له زماني وم؛ وزېږېدم!
شاعرانه زوکړه د هر سنګتراش فرهاد د زړه ودانۍ ده، چې تاسو ته يې ورونه پرانيزي.
دلته د مینې ساه چلیږي، او مینه ده چې هستۍ ته ساه ورکوي؛
راځئ د خيال په وزرو د رڼا د برجونو او د غږ د رودونو په لور شعروال ور والوزو!
***

### مینه‌ګر رودونه

غږ د کلام ټاټوبی دی او رڼا د غږ همزولی آبدي جريان!

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوند او ژوندي د غر او رڼا د ستر سمندر څپې او موجونه دي چې د هستۍ په زره زره کې لاره وهي.
شيان او څيزونه، نومونه او دريځونه ټول د غر او رڼا مرجانونه ، لعلونه ، صدفونه او الماسونه دي چې ارواوو اغوستي.
موږ د غر او رڼا پر اوږو خپل لوی سفر پېل کړی او بېرته د هسک لوړو ته خېژو.
غر او رڼا د خدای دي.
غر او رڼا د لوی متعال مينه‌گر رودونه دي. او موږ د غر او رڼا د رودونو او سيندونو لامبوزن؛
کور ورکي کبان!
هو، هستي«زه»«ته»«هغه» دومره شاعرانه شول!
د غر او رڼا، له غر او رڼا ډکو ستورمزليو!
غر ستاسو لپاره دی. رڼا ستاسو لپاره ده. بل څه نشته؛
هرڅه د غر او رڼا راز راز کالبوتونه، کورونه، مانۍ او غرونه دي چې ذهن يې د سيانس او مادې پر ژبه کاره واره راژباړي.
ټول غر او رڼا لري او له ځانه ويشي او په خپل فکر، خيال او احساساتو کې روزي او د ځان پېژندنې او خدای پېژندني په تجربو کې ځلوي.
موږ ته لمر او ستوري، موږ ته سيندونه او چېنې، موږ ته ګلان او بوراګان، موږ ته خدای او خپل زړه؛
ټول خپل دي.
نو د لمر او ستورو سترو ميلمنو؛ کوربنو!
غر او رڼا ستاسو خپل جنس دی. غر او رڼا د ټولو دي؛ خو د هېڅا نوم نه دی پرې ليکل شوی.
موږ هر يو جلا،جلا، خو ورسره د غر او رڼا د کورنۍ بې جنسيته وګړي يو.
موږ لومړنی سپرغۍ يو.
موږ لومړني غرونه يو.
موږ د ستر سمندر سپين سپين څاڅکي يو؛
ذهن او حواسو موږ ته نومونه، قومونه، نژادونه او سرحدونه جوړ کړل،
او موږ ځمکني شو.
اوس زموږ ذهن او حواسو غر او رڼا په تورو او هندسي کلمو کې ايسار کړي
او همدا د کلمو او تورو هندسه زموږ ليک دی، زموږ ادب دی، زموږ شعر او شاعري ده.
***

**زړونه د سمندر په لور رواني بېړۍ**

راځئ خپل زړه سپين خوشي کړو، د خيال وزري واغوندو او د غر او رڼا په کاروان کې،
هغه ستر سمندر، هغه ستر لمر او هغه نه ليدلي اقليم ته کډه شو.
سمندر د څاڅکو وطن دی.
موږ لوی وطن هېرکړی او د دېوالونو او برجونو په تنګو او تيارو، بې لمره او بې غږه سوړو ننوتي يو.
موږ سمندر خوشي کړی؛ خپلې تندې په ترخو او له اوره ډکو دوزخي اوبو سړوو.
موږ هلته يو؛ چې بايد واوسو.
ژوند سپېځلی دی. شېبه سپېځلې ده. چاپېريال او ماحول سپېځلي دي. موږ بايد سپين ګامونه واخلو.
سپين ګامونه موږ د سمندر بچي زېږوي؛
موږ «سمندرزي» د سمندر ګامونه او قدمونه يو؛ خو چې راوبين شو.
راځئ زړونو ته ورشو، زړونه د سمندر په لور رواني بيړۍ دي.
دغه بيړۍ ذهن باندې مه ايل کوئ.
د زړه بيړۍ له ذهن او حواسو وتې ستورمزلې سپوږمکۍ ده.
زړه چې پرانيستل شي؛ بيا خدای شته؛ بيا حرکت نشته؛

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا هرڅه رسېدلي دي. بیا ټول مزل شوی دی.
هو همدا مو غوښتل، سپینه زمانه همدا ده، سپین وطن همدا دی، سپین ګامونه همدا دي.
موږ همهاغه شو چې غوښتل مو! برکت دې وي.
***

**پرته له خدایه څنګه ژوند کوو؟**

زه څه یم؟
ژوند څه دی؟
زه ولې دلته یم؟
آیا ژوند یو ناڅاپي او پخپل سر قدم دی؟
آیا کله مو ځان داسې پوښتلی! آیا کله مو ددغو بنسټیزو پوښتنو د حل زیار ایستلی!
آیا که زه ددغو پوښتنو ځواب ونه مومم؛ ژوند راته په کولو ارزي؟!
د نور او کلام موج د حق له لوري استاذ شمس څخه څنګه پر مولانا ولګید!
د اګاهی دغه لمر د مولانا اصیل وجود(روح) وغوړاوه.
دغې معنوي تودوخې د یوه مسافرروح پر مخ د بېرته ستنېدلو لاره پرانیسته
او مولانا د هسک په لور ختلې زینې په ځان کې دننه را وپنې کړې او اوچت ولاړ؛
وخوت او دا واټن یې په سرود او څرخنده نڅاه سره وواهه.
شمس:
«لومړی ځل مې چې رومي ولید د مطالعې لپاره د زیاتو کتابونو بار یې له ځان سره درلود، کتابونه مې ترې واخیستل، او د اوبو په ډنډ کې مې واچول او ورته مې وویل:
اوس باید د حق په طریقه ژوند وکړې!»
نو څکه موږ غږ غږوو؛ په خوله یا په تار او بله هره تخنیکي یا سازي اله غږوو.
موږ د نور د معرفت لپاره څراغونه، ډیوې، شمعدانونه؛
د اوبو بریښنا، د تېلو او غازو رڼا د ساینس پر ژبه جوړوو او خپل کورونه او محلونه ور باندې سپینوو، رڼوو.
موږ د غږ او رڼا مینه له پېله له ځانه سره لرو.
***

**د چوپتیا سپینه کلمه**

نو دوستانو راځئ په دې نوې شپه کې د یو بل لپاره د مینې دریځې شو. راځئ یوبل ته مینه ورکړو.
مینه په کولو ترلاسه کیږي، همدایې الهي قانون دی.
راځئ دغه سپین قانون په خپل زړه کېووینو.
راځئ یوبل سپین سپین ونومو.
موږ په شپه کې یو. شپه چوپه ده. شپه نه غږیږي. شپه نه غږېدلې کلمه ده؛
شپه سپینه ده؛ خو چې له مادې پرته ولیدل شي.
چوپتیا د شپې ژبه ده. موږ خپله ژبه له سهاره تر ماښامه کاروو، او لا چې چوپ شو؛ فکر کوو!
آیا زموږ ډېرو خبرو د چوپتیا سپین وطن تر اشغال لاندې نه دی راوستی؟
آیا کله مو چوپتیا غوره کړې.
آیا موږ کله هم چوپ شوي او غوږ شوي یو؟ آیا څه چې وایو نه غږېدلې کلمې او وېناوې دي؛
که د نورو له خزانو د خپل فکر د جبونو ډکول!
موږ ځېنې شیان په خوله غواړو، ځېنې شیان په خپل خیال او پټو احساساتو کې ساتو؛

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځېنې شيان بيا په فکر کې لرو او هره شېبه د خپلو غوښتنو فصل ريبو.
ښايي ووايو ما دغه يا هغه شی نه دی غوښتي!
ناکامی او ناروغی، لوږې او تندې، يخنی او ګرمی، غمونه او دردونه هېڅوک نه غواړي؛
نو دا له کومه شول؟!
راځئ چوپتيا تجربه کړو،
راځئ چوپتيا ته غوږ شو، ګوندې د ژوند لوی لوی رازونه واورو.
***

## خپل شتون راوباسم

د ژوند ساړه او تاوده ټول له خپل اصيل کوره د جلا شوي روح د اړتيا له مخې دي.
هر وضعيت، هر قالب يوازې د روح د اړتياوو له مخې شتون لري؛
نو فرد هغه څوك کيږي چې ذهن او کړنې يې راوړي.
فرد خپل ليکل شوی کتاب دی.
دا چې په يوويشتمه پيړۍ کې مولانا رومي د نړيوال ستري او مادې ځپلي نسل د پام وړګرځېدلی؛ موږ ته را ښيي چې انسان د مادي، فزيکي او جسمي لوږو، تندو او اړتياوو ترڅنګ معنوي اړتياوې هم لري.
او دلته دی چې شمس، مولانا، بايزيد، حافظ، رحمان او کبير د معنوي منډې لاره د کلام په ډيوو روښانوي.
انسان ورو، ورو او د فردي تجربو له لارې د خپل اصيل حرکت او معنوي سفر لاره مومي.
او دا ښېي چې وګړي، څاروي، مرغان، نباتات او حتا مادي اجسام ټول د سترې الهي پروژې ګډونوال دي.
***

## د غږ ميدان

موږ سره لېږې يو؛ خو دا واټن يوازې جسم ته معنا لري.
غږ زموږ رويبار دی. غږ زموږ راشه درشه ده.
غږ موږ سره نيږدې کوي. غږ زموږ ميلمستيا ده؛ او موږ هم کوربه هم کوربانه!
موږ غږ اخلو، غږ غږو او غږ رسوو.
د غږ ميدان زړه دی. پاخه او ښه، ښاد او مينه ناک غږونه يوازې له زړه را وځي.
ذهن د ګټې غلام دی.
ذهن انسان په مادي اړيکو کې ايسار ساتي.
يوازې زړه دی چې په غږ سره خندا، خوښي او مينه روزي.
موږ هم د زړه يوه پاچا ته واک ورکوو، څو غږ راباندې واوري؛ غږ ام واوروي او غږ کې مو بوځي.
هر فرد خپله، خپله شپه لري. شپې تياره جوړه کړې، څو موږ دروني دنياوو او کيهانونو ته ولاړ شو.
زموږ دننه نړۍ هم ستوري لري، هم سپوږمۍ او هم روڼ لمر!
همدا زموږ د اساسي ځمکو او وطنونو ټاټوبی دی.
موږ هومره څه دننه لرو چې پوهه يې دننه راپکې وينه شوې.
موږ د خپلې اګاهۍ په وزرولو الوزو، او هومره الوزو چې اګاهي مو غوړېدلې ده.
زموږ هستي، زموږ دنيا هومره ارته او پراخه ده چې ليدای او پوهيدای ورباندې شو؛
نو شپه له دې خبرې سره ولاړه ده چې دننه نظر وکړو! دننه ولاړ شو؛
خپل شخصي او فردی لمر شو؛ ويې وينو او ترلاسه يې کړو.
***

(c) ketabton.com: The Digital Library

## خپل کلی

موږ او تاسو يو او دا تلپاتې حقيقت چې عشق شته!
عشق د ژوند جوهر دی.
هستۍ د عشق معنا ده.
دا انساني پوهه ده چې عشق يې په شته هستۍ، څيزونو، فکرونو او تمدنونو معنا کړی.
دا د ذهن له دريڅې راوتی واقعيت دی. عشق ځای لري؛ خو چې ذهن يې معنا نه کړي.
عشق شته، خو چې وشي.
عشق په کولو پيدا کېږي؛ ترلاسه کول يې همدا دي.
او عشق دادی چې له ځان څخه وپوښتو:
«زه نورو ته څه کولای شم»
«خدايه!
زما غوښتني نه؛ ستا اراده دې ترسره شي!»
الهي عشق روح پنځولی. روح نوم نه لري. وطن يې هم نوم نه لري؛ پرته له روح چا هلته پښه نه ده ايښې.
د روح کور د ژوند په هېواد کې دی. د غبږ او رڼا رودونه روان دي او د روح کور ته همداسې لار ورغځېدلې؛
د خيال سترګه موږ هلته وړي.
د روح کلی د خيال په وزرو موندی شو؛
او د خيال بيړۍ بې له ځنډه موږ ته ولاړه ده،
چې زړه له ځانه خوشې کړو؛ خيال را وبيندېږي او بيا «زمان» يا«مکان» نشته؛
موږ پرته له ځنډه په «خپل کلي» کې يو.
***

## د غبږ په عمر زاړه او پاخه

غبږ اصيل دی. نور اصيل دی. غبږ او نور د انرژۍ د نه پيژندلي سمندر لاره-پوهه له ځان سره لري.
زما او ستاسو دا نړۍ، ستوري، لمر، سيندونه، کبان او هستي څکه ژوندي دي چې غبږ او رڼا را اوري.
موږ د غبږ او رڼا عاشقانه انرژۍ په حرکت او څپه راوستي يو. او لاره هم پرته له ځنډه په«کور»ورسپره ده؛
ځنډ يوازې په ذهن کې دی.
روح نه ځنډېږي.
روح د خدای دی.
او خدای شته؛ زيات نه تشريح کېږي.
خدای نه تشريح دی، نه تفسير؛ خدای دی.
غبږ مينه او ښکلا ده. غبږ ژوند او بقا ده.
موږ د غبږ په عمر زاړه او پاخه يو.
موږ غبږ جوړ کړي غبږ مو لوړوي.
زموږ ګامونه د غبږ په اندازه ارت او لوړ کرل شوي.
موږ د غبږ څېره او ننداره او سورلۍ يو.
زموږ جسم، زموږ حواس، ذهن ټول د زمان او مکان په پولو کې ولاړ دي؛
خو غبږ د زمان او مکان دېوال څېرې کوي.
غبږ تر هرڅه وځي، الوزي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غبر تر زمان مشر او تر مکان ارت دی؛ نو راځئ زړه غبر ته ورکړو.
راځئ هغه اصیل غبر پسې د خیال په سترګه ووځو.
راځئ دننه ولاړ شو، په زړونو کې دیره شو او واورو، چې غبر د چا نښه او نوم دی؟
***

### زه خپل ځنځیري

د غبر او رڼا باران روان دی.
هستي شېبه په شېبه ژوند اخلي او پرانیستل کېږي.
زموږ د ذهن برجونه د هستۍ پولې او وروستۍ منارې جوړوي.
موږ د خپلې اګاهۍ په پولو کې له غورځو پرځو ډکه نړۍ جوړوو او همدا مو د شناخت ځلي جوړیږي.
موږ هغه څه لرو او منو چې د پوهې او اګاهۍ پولې مو ور رسیږي.
زموږ دنیا، زموږ د اګاهۍ قد او هندسه ده.
پرانیستي زړونه، پرانیستي دنیا لري.
څومره چې له خپل زړه او خیال څخه دېوالونه، ځنځیرونه، له ښامارانو ډک غرونه
او له اوره راغلي سیندونه لیرې کړو؛ هومره مو هستي غوړیږي؛
هومره مو دنیا پراخیږي.
نو خوب او سکون څه ښه دي. خوب او سکون هغه فرصتونه دي، چې موږ پکې غرونه،
اورونه، دېوالونه او زندانونه نه لرو.
بس همدلته پاتې کېږو او سپینیږو؛
خوب او تشه کې ډوبیږو.
***

### زړه کې کرل شوې کرښې

« له فکره، حواسو، خاطرو سپین پیدا وم؛ ناڅاپه په جسمي حواسو کې راویښ شوم. زه چې هېڅ وخوځیدم، په شیانو ولګیدم. د شیانو د دنیا یو (شی) شوم. د زمانې یوه پاڼه شوم.
هی هی له ما هېڅ هېر شو. هېڅ له شیانو ډېر، ډېر، ډېر غټ دی. نه پوهیږم څه را شوي؛ زه باید ځان پرانیزم.
دا ټولې اپلتې د ځان پرانستلو هلې ځلې دي...
غواړم وسوځم. غواړم په هر شي، په هر چا، په هر اور کې وسوځم.
غواړم په اور کې دننه د ژړا چیغې شم؛ د اوښکو دارې شم. غواړم د خدای سپین اور د ما څېره، نوم، او شخصیت وخوري، لولپه کړي. ټول ځان مې خدای ته تش او سپین پاتې شي! هی هی چې موږ څومره ټنبلان او کم سواده یو. موږ یوازې مجسم، مجسد، لمسي حواس او پېژندنې لرو. موږ هېڅمهال نوي، تازه او سوچه شیان نه دي لیدلي. دا ټول عمر د نورو د فکرونو او عادتونو په میتیازو کې کښېناستلي، پاڅېدلي، غړېدلي او اوسېدلي یو»
راځه ذهن پرېږدم، خاطرې پرېږدم، زاړه یادونه او دردونه پرېږدم.
راځه زړه او ذهن تش کړم.
راځه تش او سپین پاتې شم.
راځه مینه وکړم؛ بې له دې چې څه وغواړم! هو مینه وکړم او هېڅ ونه غواړم.
خدایه!
زه خپل برخلیک زړه ته سپارم؛ زړه کې مې همدا کرښې له ابده کرل شوي.
زه د هغه لوی زړه کښت یم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

***

**د کلمې کور او کلی**

دوستانو د صوت او کلمې قافله د هستۍ په زره زره کې ځغلي او ژوند ویشي.
ژوند ځکه پایښت مومي؛ چې کلام مینه ده او بې له ځنډه اوروي.
او مینه ځکه شته؛ چې خدای شته.
ژوند په کلمه غږیږي. کلمه خپله ژوند دی. موږ د غږ او کلام په قلمرو کې اوسو.
ادب، شعر، کیسه، روایت دا هرڅه د کلام د فصل وچې میوې دي، چې په رسالو او کتابونوکې دېره کیږي.
کلام شته، او موږ یوازې شته کلام غږولای شو.
زموږ زیات تلاش دادی چې کلام څرګند کړو.
موږ په جامو اموخته شوي یو. او د کلام په لیدلو او اورېدلو کې زموږ زیاته پاملرنه کالب او جامو ته ده
موږ د کلمې په کاروان کې لاره وهو، اوکلمه په زړه کې ده.
زړه د کلمې کور او کلی دی.
کلمه له زړه راوځي او هستي نوموي.
کلمه زموږ بېړۍ ده. موږ په کلمه کې د خپل ورک کلي په لور مسافر یوو.
***

**د ذهن دوړې**

ژوند شته. ژوند نه لړیږي. ژوند تل ځغلي؛
زیاتېږي!
څېړې، تیارې او رڼاوې رنګ بدلوي، ځي او راځي؛
خو ژوند هماسې تازه، ځوان، مست او عاشق لاره وهي.
هستي د ژوند څېره ده.
بې زمانه ژوند، ناپایه ژوند، آبدي ژوند او اصیل ژوند هغه وخت تجربه کېږي،
چې له څېړو والوزو، له تیارو واوړو،
چې دېوالونه په خپل ذهن کې مړه کړو؛ دېوالونه ذهني دوړې دي!
چې سپین شو، حواس هېرکړو، ذهن او د ذهن تلوسې وېدې کړو
او د خیال وزرې واغوندو، ولاړشو د زړه سپینې دښتې ته.
او په سپین خیال کې ساه وباسو.
دادی شپه ولاړه، ورځ ولاړه، زمانه ولاړه، مکان ولاړه...
هرڅه ولاړل؛ یوازې یو پاتې شو، یوازې یو.
های، دا خو هېڅ شی نه و، دا خو پرته له خدایه هېڅ شی نه و.
***

**پټه نڅاه**

«هدف یو؛ خو لارې جدا جدا!»
هر فرد په خپله ځانګړې لار کې دی.
لارې یوه خوا درومي؛ ټول د ابدیت مسافر دي.
دا هره لاره سپینه ده، شخصي ده او حقیقي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر وګړی د غر سپرغۍ راوړی او د غر سپرغۍ به مو خپل اصیل کلي ته وړي.
او دا به هغه وخت کېږي، چي موږ د غر او رڼا له رانه ورکو سرچېنو سره بېرته اشنا شو.
غر او رڼا آسماني ورکړه ده؛ ځکه نو د ټولو لپاره ده، او د ټولو لپاره پریمانه ده؛
نو هرڅه شته، یوازې دا چي موږ خپل زړونه پرانیزو
او د خیال مرغه د ورک کور د باغونو په سفر خوشي کړو.
***
شعر د صوت د سمندر سپین کنډولی دی چي ویناوال یې د خیال په سفر کې ځښي او موږ ته خبرې ترې جوړوي.
شعر د غر سپین توفان دی؛
شعر غر ښکاره کوي؛
شعر غر وايي؛
موږ په شعر کې د غر را نه پټه نڅاه مومو، ګورو او په غر سره پیدا کیږوو.
***

## ټول باور و!

د طبیعت سراسري موسم موږ په یوه پاکه، وینځلي او تصفیه شوې هوا کې را چاپېرکړو.
فضا چي زموږ انسانانو د کړو وړو له امله د دودونو، ګردونو، بخارونو او میکروبونو پراخ کښت پوښلې وه؛
د واورې او باران څاڅکي، څاڅکي اوبه یې وینځي
او باد مړې پاڼې او وچ لرګي د طبیعت له ژوندي مخه را ټولوي.
او موږ سړو نیولي یو؛ په ځای او موقعیت په تنګ یو.
موږ ژوندي یو؛ خو ژوند نه کوو.
موږ له ژوند څخه دمخه او له ژوند څخه وروسته په فکر کې لرو.
سمندر ژوند کوي او ژوند را (پو) کوي.
د غر او رڼا سمندر خپل نفس په موږ کې خوشي کوي او دا ټوله مینه ده.
موږ د ابدي مینې نه لیدلي سمندر ساه شړلو او ساه را کښلو په پېنو ودرولي یو؛
نو د زړه دړې ددغه عشق باد او باران ته پرانیزم.
نه، دړې او دېوالونه نشته، زما ذهن ګڼله چي زما او مینې ترمنځ دېوالونه ولاړ دي؛
دا باور مي چي پرېښود، دړې او دېوالونه دروغ شول.
***

## د مینې نښې

د غر او رڼا مینه والو!
راځئ د زمان دا تش کور،
دا تش هېواد په مینه وغوړوو.
راځئ د مینې ویش د خپل زړه له سمندره پېل کړو.
راځئ ددغه نه تشیدونکي سمندر مرجانونه، صدفونه او بې رنګه الماس
د غر او کلام په اوړو د یو بل پرخوا ورخوشي کړو؛
هو، موږ ټوله دنیا په مینه پاللی شو؛ هو، موږ زړونه لرو.
مینه د هغه چا په برخه ده چي خالصه مینه پر ټولو ولوروي.
داځکه چي ټول آبدي نښې دي، هستي له مینې جوړ باغ دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

راځئ زړونه سره هنداري کړو.
راځئ د حواسو او ذهن پرځای د خبرو واګې زړه او خیال ته پرېږدو.
راځئ هستی او ژوند ته د مېنې په سترګه وګورو.
پرېږدئ چې هستي يوازې له موږ څخه مينه واوري،
يوازې مينه د تاريخ خاطرو ته پاتې شي.
او د مادي دنيا له تللو وروسته زموږ کار او ميراث د مينې نښې وي؛
خدايه!
ددې هرڅه په خاطرشکر!
***

**مور غږول**

د روح آزاد ګربت اوږدې زمانې د مادي عقل په کپس کې تېروي،
چې د اصيلې آزادئ او معنوي لمر د سمندر موجونه او څپې يې ووهې او راويښ شي.
او بيا دا مهال پوهيږي، چې دا ذهن جوړکړي د تېلو او غوړيو ډيوې او څراغونه څومره کانه او ړانده دي.
او له هغې شېبې د خپل معنوي ټاټوبي او وطن لاره نيسي.
مورې د (مور ورځ) راغله ځي او راځي او ته پخپلو يادونو سره زما د خيال او عاطفي ځمکې له سره شنې کوې!
خورې او د ژوند بادونو او بارانونو(شنې) کړې، له ريښو ويستې ارواح! ته زما مور يې.
زه ستا د لمنې ګل يم.
زما د ژوند سپرلی، ځواني، مستي، غورځې، پرځې،
په تا کې ويدې وې او هره ورځ راويښېږي.
مورې!
زه هره شېبه پخپل ژوند سره تا راويښوم.
نه پوهيږم ولې زما پرځېږه ستا ښکلا څوک نه ويني!
مورې!
زه ولې په هنداره کې ځان وينم!
زما نوم، زما ژوند تا غږولې.
ته خدايي شپېلۍ يې!
زه ستا سندره يم.
مورې، ته هره شېبه ساه باسې؛
لکه زه چې ساه باسم.
زه غواړم په تاکې ويدې سندرې وغږوم؛ مورې زه تا غږوم.
اولمير هم يوې مور دنيا ته راوړی و.
د احمدظاهر ټولې سندرې په موركې ويدې وې.
ملنګ جان د مور وچ او کنګل وهلي او دمه شوي غږونه ژوند ته راوړل.
هر ويناوال«مور» غږوي.

**نوي کايېنات**

اه، شکر خدايا! شکر دنيا ټوله نوې او تازه ده.
زه نن هغه دنيا ګورم چې هېڅمهال نه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا نوې دنیا، نوې نړۍ او نوی ژوند دی!
دا نن شوه چې زه کایېنات نوې مومم. کایېنات ټول نوي او تازه دي.
کایېنات ژوندي دي؛ له ژونده ډک دي. کایېنات خدای پیدا کړي. او د هغه زمانه تل تازه؛
تل نوې ده! کایېنات له دغه غږه ډک دي.
کایېنات له نویو کلمو او ویناو ډک دي.
کایېنات تازه د تخلیق له زړه راوتي؛ تازه وړم غږوي.
کایېنات تازه لیکل شوي. زره زره د کایېناتو له تازه ویناوو او کلمو ډکه ده.
حتا یوه شنه پاڼه، حتا یوه وړوکې چوغکه، حتا یو وړوکې کب د نوې شېبې غږ دی.
ټول خبرې کوي. ټول غږوال دي.
ټول پاکه او سپېڅلې ترانه غږوي؛ همدا یې دعا ده همدا یې شکر کول دي؛
زه له کایېناتو سره خپل زړه او خوله او پټ حواس شریکوم؛
هو، ژوند همدا دی!
***

**مینه شته؛ ژوند شته**

زه په ځمکه اوسم؛ په ځمکه کور او کلی لرم.
ځمکه د کایېناتو یوه څانګه ده؛ ځمکه د هستۍ یو ګل دی.
...زه په ویښه له ځمکې سره یم؛ خو چې شپه شوه، زه پریوتم،
حواس ویده شول، ذهن ارام شو؛ زه بیا چېرې را ویښېږم؟
زه په خوب کې د کومو ځمکو میلمه یم.
زما خوبونه د خدای په بی شمېره کایېناتوکې نوې تجربې دي.
خوب بې لګښته بیړۍ او وزرې دي چې ما د نا اشنا ځمکو لیدلو او تجربه کولو ته ور ولي.
خدایا! په دومره لویه او ناپایه هستۍ سره ماته اسانه را زده کوې چې یوازې مینه کوې.
که مینه نه وي ټول کایېنات مري.
چې خدای شته، مینه شته.
چې مینه شته؛ ژوند شته او روح به تل شتون ولري؛
کټ مټ لکه زه، ته، هر ګړی!
*******

**خدای شته**

«غواړم وسوځم. غواړم په هر شي، په هر چا، په هر اور کې وسوځم.
غواړم په اور کې دننه د ژړا چیغې شم؛ د اوښکو دارې شم.
غواړم د خدای سپین اور د ما څېره، نوم، او شخصیت وخوري، لولپه کړي؛
ټول ځان مې خدای ته تش او سپین پاتې شي!
هی هی چې زه څومره ټنبل او کم سواده وم؛ ما یوازې مجسم، مجسد، لمسي حواس او پېژندنې لرلې؛
دا وچې کلمې هم همداسې راڅخه تویې شوې!
ما هومره زمانه نوې، تازه او سوچه شیان نه لیدل.
دا ټول عمرونه د نورو د فکرونو او عادتونو په میتیازو کې کښېناستلی، پاڅېدلی، غړېدلی او اوسېدلی وم.
څومره ځان تېر باسم. څومره نور په خپلو ژوولو او کمزورو خبرو تېل وهم.
دې نړیوال تمدن ته وګورئ، نړۍ زما د لاس نانځکه ده؛ خوکه وایم نړۍ د ژوند چرګه ده؛

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم د لاس نانځکه ده.
که وایم نړۍ د مجسم، مجسد او لمس کېدونکي مرگ هنداره ده؛
بیا هم نړۍ د ذهن نانځکه ده.
وگړی یوازې د خپل ذهن له انعکاس سره لاس اوگریوان کېږي.
نړۍ له ذهن څخه راتوکېدلې زما د ذهن د هلوځلو مسافه ده»
**چوب به شم؛ سپین به شم خدای شته، شته، شته!!!**
* * *

د ۱۳۸۸ل.ل کال د سلواغې ۲۴مه
د غږ او رڼا توګله همدا شېبه د کلمو په ورا کې ووته
هرڅه خدای تعالی ته سپارم!
وفا سمندر

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**